عنوان: د حسابونو څخه کولو د پاره د جمع او تفریق دوه رقمی عددونه د معکوسو عملیاتو پرته استعمالول

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسی معاونات
- په ټوره تخته لیکل مثلاً : (1) 18 + 34 څخه پیل دوی کوی د هغې د حسابولو او بیا ټولې غوښتنه کول . - پوښتنه کول چې حساب څوک څنګه چک کولے شی چې صحیح دے که غلط . - وئیل چې دا یوه طریقه ده خو په ټوله ښه نه ده ، ځکه چې یوځل بیا هم دغه غلطی کیدے شی کومه چې په پوهې څل د جمع کولو په وخت شوې وه . - تصدیق کول چې دا د چک کولو یوه ښه طریقه ده ، د متعلقه کار د لیکلو غوښتنه کول .	1- د جمع د حساب چک کولو د پاره یوه طریقه پیدا کول - یوځای حساب کول ، څخه چې دوی کوی هغه په اوچت آواز وئیل ، په ټوره تخته لیکل : 18 + 34 = 52 - فکر پرې کول ، کیدے شی چې یوځل بیا د حساب کولو تجویز وړاندې کړی (2) - فکر کول چې ایا د تفریق په مدد سره د حساب د چک کولو د پاره څه امکان شته (3) ؛ د 52 نه د 34 د تفریق کولو تجویز وړاندې کول چې دا معلومه شی چې باقی به 18 وی . - په ټوره تخته حساب کول : 52 - 34 = 18 د هغې په حقله وئیل د څخه چې دوی حساب کوی ؛ وئیل چې پوښې حساب (جمع) صحیح وو .	ټوره تخته
- په ټوره تخته یو بل مساوات لیکل مثلاً : 37 + 57 - غوښتنه کول چې د تفریق په مدد سره حساب چک کړی .	2- په ټوره تخته د یو بل مثال مشق کول - د دې حساب کول ، څخه چې دوی کوی د هغې په اوچت اواز وئیل : 37 + 57 = 94 - د دې پحقله فکر کول ، د 94 نه د 57 د تفریق کولو تجویز وړاندې کول چې دا معلومه شی چې باقی به 37 وی ؛ د غسې کول : 94 - 57 = 37 وئیل چې حساب صحیح وو .	
- کلاس په دوه ګروپونو کښې تقسیمول ؛ دواړو ګروپونو ته وئیل چې پوښې مشق پانړې ته وګوری . - یو ګروپ ته د جمع او بل ګروپ ته د تفریق ټول حسابونه حواله کول ؛ د حساب کولو د پاره کافی وخت ورکول . (4) - ښکاره کول چې د تفریق هر حساب د جمع د یو کار سره تعلق لری ؛ غوښتنه کول چې د جمع پوښې محاسبه او د تفریق متعلقه حساب کلاس ته ولولی . (5) - غوښتنه کول چې د جمع حسابونه او په هغوی پورې د تفریق مربوطه حسابونه ولولی . - غوښتنه کول چې د تفریق د متعلقه حساب سره دې د جمع د هر حساب علامت ویلکے شی څنګه چې په پوښې جمع کښې بنودلے شوے دے .	3- په دوه ګروپونو کښې حسابونه چک کول - معلومول چې په مشق پانړه کښې د حسابونو دوه ګروپونه دی : یو د جمع د پاره او بل د تفریق د پاره . - د یو ګروپ ښی اړخ ته د جمع (+) ؛ او د بل ګروپ کیڼ اړخ ته (-) د تفریق ټول حسابونه کول - د جمع ګروپ د ماشومانو پوښې حساب کلاس ته لوسټل ؛ د ټولو د تفریق د متعلقه حساب د معلومولو کوشش کول ؛ د تفریق ګروپ د یو ماشوم کلاس ته د متعلقه مساوات لوسټل ؛ وئیل چې ایا محاسبه صحیح وه - په دوه دوه کسه کلاس ته د ټولو متعلقه حسابونو لوسټل ؛ هرځل چک کول چې ایا یو بل سره مطابقت لری . - د تفریق د متعلقه حسابونو سره د علاماتو جوړول : □ ⊙ △ ⊡ △ ○	مشق پانړه ر2 - 25 - 1

درسي پلان: ر 2-25	ددې درسي پلان په باب څۀ نورې تبصرې

(1) استاذ دې د دې خبرې خيال وساتي چې طالب علمان پۀ حساب کولو او تشريح کولو کښې لکه د مخکښې پۀ شان هم دغه طريقې صحيح پيروی وکړی .

(2) د 52 نه د 34 د تفريق کولو توقع استاد د طالب علمانو نه دکار پۀ دې مرحله کښې نشی کولے خو که چرې کوم يو طالب علم نه د دې د کولو فکر پيدا شوے وی نو دغه دې نۀ کوی او د درسی پلان بل قدم نه دې لاړ شی .

(3) که چرې طالب علمان تفريق نۀ شی کولے نو استاد به پۀ دې زور ا چوی چې غلطی (که چرې کومه وی) د دوو عددونو د جمع کولو پۀ وخت کښې شوېده ، يو کس کولے شو چې دا غلطی د تفريق پۀ عملیې سره د چک پۀ ذريعه پيدا او اصلاح کړی .

(4) کوم طالب علمان چې خپل کار پوره خلاص کړی نو د خپل ګروپ د نورو هغو طالب علمانو سره به مرسته کوی چې خوک چې مدد غواړی .

(5) کۀ چرې څنې محاسبې چې پۀ يو بل پورې تعلق لری او د يو بل سره برابرې نۀ را ځی نو ماشومان به وائی چې د لته چرته پۀ کوم ځای کښې غلطی موجوده ده ، دا غلطی به لټوی او اصلاح کوی به ئې .

ر ۲	۲۵ — ۱	②			①		
۷۲	۵۲	۷۱	۴۹	۵۴	۶۷		
-۱۸	-۲۶	-۳۸	+۱۲	+۱۸	+۲۴		
			○	□	△		
۹۲	۹۱	۶۱	۲۶	۷۵	۳۲		
-۱۷	-۲۴	-۱۲	+۲۶	+۱۷	+۳۸		
	△		⊙	⊡	◬		

د ورځې ورپسې درس	عنوان: د تفریق د حسابونو چک کولو د پاره د جمع حسابونه استعمالول
خاکه ر2-25	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسي معاونات
1- د استاد په نوره تخته لیکل مثلاً: $\frac{41}{23}$ ؛ د طالب علمانو د کار حلول ، هم دغه وخت کښې څه‌ئ چې دوی کوی د هغې کلاس ته لوستل (نتیجه : 18)	نوره تخته
2- د استاد غوښتنه کول چې د چک کولو د پاره به کوم حساب کولے شی چې ایا د تفریق حساب صحیح دے که غلط ؛ د طالب علمانو بحث کول ، معلومول چې د تفریق د حساب د چک کولو د پاره دې د جمع حساب وکړے شی ؛ لیکل / دا په‌ئ نوره تخته حسابول : $\begin{array}{r} {\scriptstyle 1}18 \\ 23+ \\ \hline 41 \end{array}$ وئیل چې دا دوه حسابونه یو بل سره جوړیږی (تکمیږی) .	
3- دوئیمې مشق پاڼې ته کتل ؛ پوښتنې د ټولو طالب علمانو څانله څانله ډینی اړخ ته د تفریق یو حساب حلول ، بیا د بل اړخ (کڼ اړخ) نه معلومول (2) چې د جمعې کوم حساب د تفریق حساب سره تعلق لری ؛ دا حسابول ؛ مقابله کول چې دا یو بل سره جوړیږی . بیا د جمع او تفریق بل حساب کول او داسې نور ، هر ځل علامت په‌ئ متعلقه بکس کښې جوړول :	مشق پاڼه ر2-25-2

ر ۲ | ۲۵-۲

①		②	
۵۶ − ۲۸ = △	۴۲ − ۱۵ = □	۲۷ + ۱۵ =	۲۵ + ۵۹ =
۸۴ − ۵۹ = ○	۷۳ − ۳۴ = ⊙	۳۹ + ۳۴ =	۲۸ + ۲۸ =

دوئیم ورپسې درس خاکه ر2-25	عنوان: د چک کولو د پاره د معکوسو عملیاتو حسابول

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات
1- د استاد پۀ تخته لیکل: 17 + 35 ؛ د یو طالب علم دا پۀ صحیح (خاص) شکل کښې حسابول، د نورو کلاس ته د هغه ټول حساب لوستل چې نتیجه یې 52 ده.	تخته
2- د استاد غوښتنه کول چې د چک کولو د پاره معکوس حساب معلوم کړي؛ د طالب علمانو بحث کول، تجویز وړاندې کول، پۀ تخته لیکل: 52 − 35 ؛ دا حسابول؛ وئیل چې حسابونه یوبل سره ربط لري (که دا سې نۀ وی نو طالب علمان دې غلطی معلومه کړي)	
3- پۀ تخته لیکل: 61 − 23 ؛ دا پۀ صحیح شکل کښې حسابول، د نورو کلاس ته د ټول حساب لوستل چې نتیجه یې 38 ده.	تخته
4- د استاد غوښتنه کول چې د چک کولو د پاره معکوس حساب معلوم کړي؛ د طالب علمانو بحث کول، تجویز وړاندې کول، پۀ تخته لیکل: 38 + 23 ؛ دا حسابول؛ وئیل چې ایا دواړه حسابونه یوبل سره مطابقت لري.	
5- درېیمې مشق پا نړې ته کتل؛ معلومول چې پۀ تخته لیکلې شوی دوه مثالونه دواړه د مشق پا نړې پۀ سرکښې لیکلې شوی دی؛ یو ځل بیا کلاس ته لوستل؛ د + − او − + پۀ مطلب او معنی بحث کول.	مشق پانړه ر2-25-3
6- د انډ یوال سره یو ځای د ټولو حسابونو مکمل کول.	



ریاضی ـ دویم ټولګی	عنوان: مشق کول : ـ ښځې ـ او ـ ګڅ ـ ، ـ مخ پۀ وړاندې ـ او ـ مخ پۀ شا ـ
ورځ 2 – 26	

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسي معاونات
	1: د ـ ګڅ ـ او ـ ښځې ـ مشق کول	
– طالب علمانو ته وښیل چې زما د حکم مطابق به عمل کوئ ، پۀ هر ځل به د ـ ښځې ـ او ـ ګڅ ـ منځ کښې فرق کیږي ؟ حکم ورکول ؛ (دا د څومنټو د پاره کول) .	– د استاد د حکم سره سم عمل کول ، یعني ښځې / ګڅ ، لاس / پښه ځغلول (او چټول) ، ښځې / ګڅ غوږ ته لاس ورورول د ښځې / ګڅ لاس پۀ ذریعه ، ګڅه / ښځه ستنزکه پټول ، ښځه / ګڅې پښې ته ښځې / ګڅ لاس ورورول ؛ ښځه / ګڅې کې که ته اشاره کول او داسې نور .	
	2 – دا لوبه ـ بالیټ ووهه ـ کول	
– دیوې لوبې اعلان کول ؛ طالب علمانو ته وښیل چې د سکول پۀ انګړ کې یوه لوبه دایره جوړه کړئ ؟ د ـ بالیټ ووهه ـ لوبه تشریح کول (۱) ، ضروري خبرونه تیارول .	– غوږ ونیول ، د سکول انګړ ته ټلل ، یوه دایره جوړول .	یو بالیټ یا یو بل لوبنې ، یوه لبنته ، د ستنزکو ټرلو د پاره یوه کپړه
– لوبه پۀ یو طالب علم شروع کول کوم چې پخپله ستنزکې ماشوم رهنمائي کوي .	– دیوۀ هلک چې ستنزکې ټپ ټرلې دی کوشش کول چې بالیټ پیدا کړي او وۀ ځي وهي ؛ د یو بل طالب علم د ـ ګڅ ـ ، ـ ښځې ! ـ ، ـ مخې ته ! ـ ، ـ شاته ! ـ پۀ اواز کولو سره د هغۀ رهنمائي کول .	
– دویم ځلې شروع کول ، اوس ټولو طالب علمانو ته اجازه ورکول چې حکمونه ورکړي .	– د یو بل طالب علم ستنزکې ټرل کیږي ، د نورو ټولو ورته حکم ورکول .	
– دوه یا درې ځلې د دغه لوبې بیا تکرارول ؛ د طالب علمانو ته غوښتنه کول چې واپس لاړشي .	– همدغه شان عمل کول ؛ بیا پۀ کلاس کښې خپلو خپلو ځایونو ته ټلل .	
	3 – پۀ یوه مشق پاڼه د ـ ښځې ـ ، ـ ګڅ ـ ، ـ مخې ته ـ ، ـ شاته ـ مشق کول	
– د ـ ښځې ـ او ـ ګڅ ـ مشق پاڼه ټولو ته ویشل .	– د سکول ته ټلل ـ لوبه خوځلې کول ، وار پۀ وار .	مشق پاڼه ر2-26-1
– د ټرلو ستنزکو ماشومانو پاڼې کتل او غوښتنه کول ؛ د لوبې تشریح کول (سکول ته ټلل ـ) .	– د انډیوال وښیل : ته ! اوس هم د ..... مخې ته یې ! ، ته ! د ..... ګڅې خوا ته یې ، ته ! د ..... ښې خوا ته یې .	
– د ټرلو ستنزکو ماشومانو پاڼې کتنه کول چې خپل پوزیشن پیدا کړي (د مسوا کې ګوتې پوزیشن)		

(1) د خوند اخیستلو نه علاوه ددې لوبې مطلب دادے چې د «بنې» ، «ګڼې» ، «مخې ته» او «شاته» تصور پخلا وکړي . هغه رضا کار طالب علم چې د دا ډیرې په منځ کښې پروت بالښت به پیدا کوي او وهي به ئې ، سټرګې به ئې په یوه ټوکړه نړۍ وې او یوه لښته به ئې په لاس کښې وې . دغه طالب علم به د میز دیوې بل طالب علم په ذریعه رهنمائ کیږي چې د څلورو مختلفو حکمونو دورکولو اجازه لري : «بنې خواته!» ، «ګڼې خواته!» (بنې یا ګڼې خواته راګرځېدل) یا «مخې ته» یا «شاته» راګرځېدل . ضرورت په اندازه ددې حکمونو تکرارول . کله چې رومبی طالب علم بالښت په لښته ووهلو دبل طالب علم ستړګې به پټول کیږي او بالښت به وهي . استاد به اوس ټولو طالب علمانو ته اجازه ورکوي چې د نړۍ ستړګو ماشوم رهنمائ کړي ، په ګډه سره هدایات ورکول . ټول طالب علمان به خپلو هغه خبرو ته پوره توجه کوي چې د پټو ستړګو ماشوم پرې رهنمائ کوي ، ددې احساس کول چې ماشوم به په حکمونو څنګه پوهیږي . کېدے شي چې د استاد دپاره دا ضروري وي چې پدې منځ کښې د حکمونو دورکولو چل تشریح کړي ، که چېرې ټول کلاس غیر منظم وي نو استاد د 3 - 5 پورې طالب علمان ټاکلے شي چې په ګډه سره حکمونه ورکړي .

(2) دا لوبه به دیوانډیوال سره کیږي ، یو طالب علم به ستړګې تړي . مسواکۍ ګوته به د لاري په سر (شروع) ږدي (په لاره کښې دسړي او اس په منځ کښې) ، بیا به ګوته په مزه مزه د لاري په آخر کښې د سکول خواته بیائ ، کوشش به کوي چې د لاري نه وانۀ وړي او د څنډو کرښې هم قطعه نۀ کړي . بل طالب علم د «بنې» ، «ګڼې» ، «مخې ته» ، «شاته» په ویلو سره مدد کوي . د دې دپاره چې هغه د لاري نه بې لاري نۀ شي او په لار پاتې شي . کله چې طالب علم د څنډو په کرښو ور وخیژي نو دا بل طالب علم به ورته وائي چې ودرېږه ! په شا لاړشه ! ، ان تر هغې چې ببر ته لاري ته سم شي .

بیا هغه هغۀ ته وائي چې «مخې ته!» ، بیا «ګڼې خواته!» ، «بنې خواته!» د مطالبې سره سم . سکول ته د تللو په وخت ماشوم مخ په وراندې ځي او کور ته د راتللو په وخت مخ په شا حرکت کوي . دغه بل طالب علم په نرم اواز سره حکمونه ورکوي . کله چې یو طالب علم په ګوته سکول ته ورسیږي نو بیا به وار ددې بل وي . دا بل مکلف د کور نه بیا شروع کولے شي یا د سکول نه مخ په شا حرکت کولے شي .



د ډومبی وړپسې درس	عنوان: د «دنده» او «بهر» مشق کول
خاکه ر2-26	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات
1- د استاد د طالب علمانو نه غوښتنه کول چې دکور دنده او دکور نه بهر په اوسیدلو خبرې وکړي مثلاً: په اوړی/ژمی کښې، د ورځې/د شپې، کله چې باران وریږی/طوفان وی. کوم کار دکور دنده/بهر کیږی، کوم خلق اکثره وخت دکور دنده/بهر اوسیږی/کار کوی او داسې نور.	
2- دوئیمی مشق پانړې نه د استاد دکتلو غوښتنه کول. څۀ چې طالب علمان وینی په هغې خبرې کول؛ «دنده»، «بهر» د زور اچولو دپاره د استاد د طالب علمانو رهنمائی کول.	مشق پانړه ر2-26-2
3- د طالب علمانو په تصویر کښې د ټولو هغو اشخاصو رنګول یا تورول (پردازکول) څوک چې «دنده» (په جومات، په کور، په بس، په انګړ، په موټر کښې .....) دی.	
4- کله چې وخت وی نو د مشق پانړې ر2-26-1 سره د املا درس لوبه بیا کول کیدے شی («ګڼ»، «ښے»، «مخ ته»، «شا ته»).	مشق پانړه ر2-26-1



دوئیم ورپسې درس	عنوان: د خلامو او بندو اشکالو مشق کول
خاکه ر 2-26	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات
1- د استاد د هغه پیشو پۀ باب خبرې کول چې مېز نیسی ؛ کله کله مېز ونیولے شی او کله نه. د طالب علمانو پۀ دې باب خبرې کول چې پیشو کله مېز نیولے شی او کله ئې نه شی نیولے .	
2- د استاد پۀ توره تخته د یوې کرښې ویستل ، وئیل چې دا یو پر لوړ او شوے دېوال دے چې پیشو پرې نه شی ختلے ،دلاندې پۀ شان یوه مېز او یوه پیشو جوړول :	توره تخته
	
پوښتنه کول چې ایا پیشو دغه مېز نیولے شی (پیشو مېز نیولے شی ځکه چې د دېوال بڼې اوګڼې خواته دېوال ختلونه لاره خلامه ده او پیشو مېز ته ځان رسولے شی) .	
3- تصویر ته د اسې تغیر ورکول :	
بیا پوښتنه کول چې ایا پیشو دغه مېز نیولے شی (نه ئې شی نیولے ځکه چې دېوال بند دے او مېز پکښې دننه ده) د مېز ې د محفوظ ساتلو د یوې بلې طریقې پوښتنه کول . جواب : چې د پیشو نه یو دېوال چاپېره کړے شی .	
4- درېیمې مشق پانړې ته کتل ؛ د استاد وئیل چې د کرښو نه مطلب دیو لوړ او بنوے دېوال دے چې پیشو پرې ختلے نه شی . بیا پوښتنه کول چې معلومه کړئ کوم دېوال خلامس دے (چې پیشو مېز ه ونیولے شی) ، او کوم دېوال بند دے (چې پیشو مېز ې ته ځان نه شی رسولے)، د یو خلامس دېوال تصویرونه پۀ دې کرښه (—) پۀ ښنه کول او د بند د یوال تصویرونه پۀ دې سره ○ پۀ ښنه کول .	مشق پانړه ر2-26-3
د 27 نمبر درسی پلان دپاره تیارے :	
27 نمبر درسی پلان خاص تیاری ته ضرورت لری چې لږ تر لږه یوه ورځ مخکښې ئې شروع کول پۀ کار دی :	
(الف) استاد به د مخکښې نه درسی پلان پۀ غور سره لولی .	
(ب) استاد به طالب علمانو ته خبر ورکوی چې ځینې خیزونو نه پۀ دې درس کښې ضرورت دے او سکول ته به راوړل کیږی (27 نمبر درس نورې تبصرې پرمېځه شمېره وګورئ) .	



ریاضی ـ دویم ټولګی	عنوان: د درې حجمي (درې بُعده) څیزونو ګروپ بندي (۱)
ل 2 - 27	

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسي معاونات
	۱- د جمع شوو څیزونو نومونه اخیستل؛ د دوی د کار قیمت او د اسې نورو پېژندنه حقله خبرې کول	
ـ د ماشومانو نه د دومره ډېرو څیزونو د جمع کولو پحقله شکریه ادا کول؛ د دې څیزونو د نومونو اخیستلو غوښتنه کول	ـ د یو ماشوم چې یو څیز ئې جمع کړې دے، د کلاس مخې ته راوتل، د دغه څیز ښودل؛ د نورو وئیل چې دې ته څه وائی.	د څیزونو مجموعه
ـ پوښتنه کول، د دې څیز نه څه کار اخیستے شی؟	ـ وئیل چې د دې څیز نه څه کار اخیستے شی؛ که ممکن وی نو عملي مظاهره ئې کول.	
ـ د دغه څیز پېژاب د څه نورو نقصیلاتو دوئیلو غوښتنه کول.	ـ مثلاً د قیمت پېژاب حقله څه وئیل، ایا دې نه همېشه کار اخیستے شی، ډاچرته موندے یا اخیستے شی، ایا دا استعمال شوے یا نوے یا زوړ یا نقصاني شوے دے.	
ـ غوښتنه کول چې هم پېژاب د دغه طریقه پېژندنو څیزونو بحث وکړي او بیان ئې کړي.	ـ هم دغه شان عمل کول، یو بل پسې پېژاب څیزونو خبرې کول.	
	2- د څیزونو پېژاب ګروپ بندي بحث کول	
ـ تجویز وړاندې کول چې د څیزونو نمایش نه دې پاسې ترتیب ورکړے شی چې یو شان څیزونه یو ځای کېښود ے شی؛ د تجویزونو غوښتنه کول.	ـ فکر پرې کول، تجویز وړاندې کول چې کوم کوم څیزونه پېژاب یو ځای کېښې ګروپ بندي کېدے شی؛ یو څو تجویزونه وړاندې کول.	
ـ هر تجویز یو بل پسې منل/تېره پرې کول، طالب علمانو نه د دلائیلو غوښتنه کول چې دوی د څیزونو دا یا هغه ترتیب ولې خوښوی (2)	ـ د تجویز شوو ترتیبونو د پاره دلائیل وړاندې کول؛ پېژاب د دې پېژاب یو ځای بحث کول	
	3- د څیزونو د ګروپ بندي پېژاب ذریعه نمایش ترتیبول	
ـ د طالب علمانو نه غوښتنه کول چې دوی د څیزونو کوم ترتیب خوښوی.	ـ بحث کول، کوم تجویزونه چې مخکښې وړاندې کړے شوې دغو نه د څیزونو پېژاب یو خاص ترتیب متفق کېدل.	
ـ بلنه ورکول چې پېژاب کوم تجویز دوی متفق شوی دی د هغې مطابق نمائش نه ترتیب ورکړي.	ـ د یو څو طالب علمانو د څیزونو ګروپ بندي کول او ترتیبول؛ د نورو ورته کنټل، چک کول، اصلاح کول.	
ـ غوښتنه کول چې د څیزونو ګروپونه بیان کړي (3)	ـ د څیزونو د ګروپونو پېژاب حقله خبرې کول، د دغې ترتیب پحقله دلائیل وړاندې کول	
ـ تشریح کول چې بله ورځ به دوی څیزونه یو ځل بیا ترتیبوی خو پېژاب یوه بله طریقه.	ـ غوږ ورته نیول.	

درسي پلان: ر2-27	ددې درسي پلان پۀ باب څۀ نورې تبصرې

1- دا درسي پلان د "جيومېټرۍ (هندسې)" د ندريس يوه برخه ده. ماشومان دې د مختلفو شکلونو او کيفيتونو څيزونه پۀ لاس کښې را واخلي او د هغه معيار مطابق دې پۀ مختلفو ګروپونو کښې ترتيب ورکړي چې دوی پخپله معلوم کړو (ګورئ نورې تبصرې نمبر 2)، ماشومان به دا څيزونه پۀ يوه عملي طريقه او هم د مشق پاڼې د اول او دريم ورځې درسونو د تصويرونو نه د دوی د اصلي شکل مطابق هم ترتيبوي (بکس شکله، ګنډ شکله، نل شکله). استاد به د ماشومانو پاڼې ګيرينه کوي چې دا څيزونه جمع کړي او سکول ته ئې راوړي لکه غټ او واړۀ بکسونه، د تنبلو ډبلي، د مختلفو شکلونو تيمان، د نلونو (پائپونو) ټکړې، ديلا سټک باربې نلونه، د لرګي زاويه لرونکي (ګونيزې) ټکړې يا نور څيزونه، عمومي شکله څيزونه لکه پو کټرۍ، بالونه، خاص کاټرۍ او داسې نور. د جماعت پۀ کمرې يا د سکول پۀ ميدان کښې د يو ورځې نمائش د پاره دې دا څيزونه جمع کړے شي.

2- کېدے شي چې طالب علمان د دلائيلو پۀ وړاندې کولو کښې مشکلاتو سره مخامخ شي چې دوی د دغو يا د هغو څيزونو د يوځای اېښودو تجويز ولي وړاندې کړو. استاد دې وخت ورکړي او دلائيلو پيدا کولو کښې دې مرسته وکړي. د ګروپ بندۍ معيار به داوي: غټ څيزونه، واړۀ څيزونه يا سپک څيزونه، درانۀ څيزونه يا د لرګي، اوسپني، کاټرۍ او داسې نورو نه جوړشوي څيزونه. هغه څيزونه چې پکښې څۀ اېښودلے شي، د نورو نه دې جدا کړے شي کوم چې ددې مقصد د پاره نۀ استعماليږي. يا د لاس جوړ شوی څيزونه، قدرتي څيزونه، يا نرم، سخت څيزونه، قيمتي څيزونه، بې قيمته څيزونه يا مات څيزونه او داسې نور.
دا خبره مهمه ده چې طالب علمان دې دومره ترتيبونه او دلائيل پيدا کړي خومره چې ممکن وي، او پۀ دغه تجويزونو کښې به "غلط" او "صحيح" نۀ وي.

3- دا څل به طالب علمان يو ځل بيا د ځانله ځانله څيزونو صرف نوم نۀ اخلي، ددې پۀ حقله به خبرې هم کوي لکه: دا څيزونه ډېر درانۀ دي، دا څيزونه سپک دي، يا: دا څيزونه پۀ لاس جوړ شوي دي، دا قدرتي څيزونه دي او داسې نور.

د ډوډۍ وړاندې درس خاکه ر2-02	عنوان: د 0 ـ 100 پورې پۀ سلسله کښې پۀ لس ګڼوونو کښې تفریق کول

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسي معاونات
1 ـ مشق پاڼه ر2-02-2 بیا مطالعه کول او خبرې ورباندې کول. 2 ـ غوښتنه کول چې د دوکانداري لوبه وکړي او یو څیز واخلي او د 50 ـ یا د 100 ـ روپو نوټ ورکړي. 3 ـ استاد یوځو طالب علمانو ته د مخکښې راتلو ویناکوي: (الف) کوم یوچې څۀ اخیستل غواړي هغه وائي کله (یو چک د 30 روپو والا) (ب) د 50 ـ روپو نوټ ورکوي، (ج) هغه بل تنزې نوټ اخلي، واپس پیسې ورکوي (20 روپۍ) (د) نور ټې چک کوي؛ مدد کوي. (هـ) دیو طالب علم د متغلقه مساوات پۀ توره تخته لیکل (50-30 = 20) 4 ـ پۀ نورو شاګردانو دا لوبه جاري ساتل اود مخکښې پۀ شان نور مثالونه ورکول: (الف) اخیستل، د 50 ـ او یا د 100 ـ روپو نوټ ورکول، (ب) حساب کول / واپس پیسې ورکول (ج) پۀ توره تخته مربوط مساوات لیکل.	مشق پاڼه ر2-02-2 دکارکتاب د شاولوڼو برخې نه هغه ټولې نقلي روپۍ توره تخته



د ډومبۍ وړپسې درس	عنوان: د خیزونو نمایښ ته بیا ترتیب ورکول
خاکه ر 2-27	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسي معاونات
1- یوځل بیا د خیزونو نمایښ ته کتل ؛ د خیزونو د موجوده ترتیب په ۀ حقله دلائیل تکرارول.	د خیزونو نمایښ (ولګورئ درسي پلان ر2-27)
2- خنګه چې په ۀ تېر سبق کښې تجویز کړے شوی دی د نورو ممکن ترتیبونو را په ۀ زړه ۀ کول (ولګورئ درسي پلان ر2-27؛ نوري تبصرې نمبر 2)	
3- د شکل مطابق د خیزونو د ترتیبولو تیارے کول: (الف) د استاد درې خیزونه ښودل (یوبکس شکله، یو غټ شکله، یو نل شکله)؛ غوښتنه کول چې دا خیزونه دې د دوی د شکل مطابق بیان کړے شی. (ب) د طالب علمانو د خیزونو بیانول، صحیح اصطلاح کاپې معلومول: بکس شکله، غټ شکله، نل شکله.	
4- خیزونه د دوی د شکل مطابق ترتیبول: (الف) د استاد تجویز وړاندې کول چې د شکلونو مطابق ګروپونه ته ترتیب ورکړے. (ب) د طالب علمانو بحث کول، د خیزونو د ځای بدلولو پحقله دلایل وړاندې کول، خیزونه بیا ترتیبول (د استاد لاشوونه کول، مرسته کول) (ج) د طالب علمانو د خیزونو ګروپونه بیانول، یعنې دلایل وړاندې کول چې خیزونه ولې یوخاص ګروپ سره تعلق لري.	
5- په ۀ ډومبۍ مشق پاڼه کارکول: (الف) مشق پاڼه مطالعه کول؛ دغه درې خیزونه بیانول، صحیح اصطلاح کاپې استعمالول: بکس شکله، غټ شکله، نل شکله. (ب) د طالب علمانو د خیزونو د نمایښ په بوخیز په ۀ هرخالی ځای کښې جوړول؛ د استاد په ۀ طالب علمانو ګرځېدل، د ضرورت په ۀ وخت مرسته کول.	مشق پاڼه ر2-27-1



دویم وړپی درس	عنوان: جوړ شوی (رسم شوی) خیزونه د خپلو خپلو شکلونو مطابق ګروپ بندی کول ؛ خیزونه جوړول .
خاکه ر 2-27	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات
1- پرومبې مشق پاڼې ته کتل ؛ څۀ ډول ماشومانو جوړ کړی دی د هغوی پۀ باب څۀ وئیل ، د خیزونو شکلونه بیا نول .	مشق پاڼه ر2-27-1
2- پۀ دویمه مشق پاڼه کار کول : (الف) تصویرونه مطالعه کول ، د خیزونو نومونه اخیستل او بیا نول ئې ، د دوی د مقاصدو پۀ حقله خبرې کول . (ب) زبانی طور د دوی د شکلونو مطابق د خیزونو ګروپ بندی کول . (ج) پۀ خاموشۍ کار کول ، د مشق پاڼې د سر پۀ بکسونو کښې د خیزونو نه خپل متعلقه ماډلونه ، ته د یوځای کوونکو کرښو جوړول . (د) پۀ حلونو بحث کول ، چک کول .	مشق پاڼه ر2-27-2
3- د پرومبې مشق پاڼې پۀ بکسونو کښې نور خیزونه جوړول (خیزونه یاد نمایش نه یا د مشق پاڼې ر2 - 27 - 2 نه انتخابول) .	مشق پاڼه ر2-27-1



ریاضی - دویم ټولګی | عنوان: د ضرب معرفی کول د دوو «2» ضرب کول

ر 2 - 28

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسی معاونات
	1- د دوه ګونو د جمع مشق کول	
- د لسو شاګردانو نه غوښتنه کول چې څې ته راشی او پۀ یو قطار ودریږی . - د دریو شاګردانونه د څپلو دواړو لاسونو د اوچنولو غوښتنه کول .	- د شاګردانو مخې نه را ټول ؛ پۀ یو قطار ودرېدل ؛ د نورو ورته کتل . - د درې شاګردانو نه د هریو دواړه لاسونه اوچنول . د نورو قیمه وئیل ؛ درې شاګردانو هریو دواړه لاسونه اوچت کړی دی ؛ دغه شان ټول شپږ لاسونه اوچت شوی دی .	
- پۀ تور ه تخته لیکل 2 + 2 + 2 = ☐ - هم دغه شان نور مشتونه لکه د «5» یا «8» شاګردانو نه د څپلو لاسونو د اوچنولو غوښتنه کول .	- د شاګردانو یکس ډکول : 2 + 2 + 2 = 6 - د شاګردانو هم دغه شان عمل کول ؛ د نورو شاګردانو هم دغه شان پۀ تور ه تخته مساوات لیکل .	تور ه تخته
	2- د ..... ځله ..... معرفی کول (ضرب)	
- د معلومولو غوښتنه کول چې څو شاګردان به لاسونه اوچتوی ؛ وئیل لکه 2 + 2 + 2 + 2 ..... - زبانی مشکل کار ورکول لکه 2+2+2+2+2+2+2+2=	- وئیل چې څلور شاګردان به څپل دواړه لاسونه اوچتوی ؛ چې نتیجه به ئې «8» وی . - ممکن ده چې د بیا بیا وئیلو د پاره خواست وکړی څکه چې دا راپۀ یادول ډېر ګران دی .	
- پۀ مزه مزه دا کار څو واړې تکرارول . (۱)	- د شاګردانو د نتیجې معلومول ، وئیل 2+2+2+2+2+2+2 = 14	
- غوښتنه کول چې څنګه یوشاګرد نتیجې معلومه کړی . - څومره ځل چې «2» دوی اوریدلی دے هغه هومره ځل د لیکلو غوښتنه کول (د استاذ / استاذې پخپله لیکل شروع کول 2 + 2 .....)	- وئیل چې څو ځل چې «2» وئیلے شوی وو هغه هومره ځل دوی و شمارل .	
- د هم دغه قسم مشقونو تکرارول .	- د شاګردانو مکمللول : 2 + 2 + 2 + 2 + 2 + 2 + 2 = 14	تور ه تخته
	- د شاګردانو د تورې تختې نه پۀ شریکه لوستل . او بیا د ځان ځانله شاګردانو نتیجې وئیل .	
- د استاذ د دې کار پۀ یوه نوې طریقه د لیکلو اعلان کول / وئیل : چې موږ ته دا پۀ مختصره طریقه لیکلے شو چې موږ ووینو چې «2» څو واړې استعمال شوی دی 7 × 2 = د «2» د سلسلې سره خوا کښې لیکل ، پۀ مزه مزه ئې لوستل	- د ماشومانو دا کلاس ته لوستل ؛ څو واړې وئیل 2 + 2 + 2 + 2 + 2 + 2 + 2 = 7 × 2	
- 7 × 2 = ☐ بیا لیکل ، پۀ خالی یکس کښې د نتیجې بیا غوښتنه کول .	- 7 × 2 = 14 لیکل .	
- د استاذ مثلاً 2+2+2+2+2+2+2+2+2 وئیل ، غوښتنه کول چې څه واړې «دوه» ووئیل : څو واړې تکرارول .	- وئیل چې استاذ «9» واړې «2» ووئیل .	
- پۀ اوږده طریقه او پۀ لنډه نوې طریقه د دې د لیکلو غوښتنه کول .	- 2+2+2+2+2+2+2+2+2 = 9 × 2 لیکل (2)	
- د 9 × 2 = ☐ د مکملولو غوښتنه کول ؛ پۀ تور ه تخته د مساوات لیکل .	- 9 × 2 = 18 جدا جدا لیکل .	
	3- د دوه ګونو د جمع او هم د ضرب پۀ مساوات کښې لیکل	
- د مشق پاڼې ر2 - 28 - 1 اولنی مثال پۀ تور ه تخته لیکل .	- د ټول کلاس دا پۀ شریکه حلول .	مشق پاڼه ر2-28-1
- د نورو مساواتو هم دغه شان د مکملولو غوښتنه کول . - پۀ آخره کښې ټول ټولګی ته د مساواتو پۀ اوچت اواز د لوستلو بلنه ورکول ؛ د ضرورت پۀ وخت چک کول .	- د مشق پاڼې مکملول ، د هر سوال د پاره د واړه مساوات حلول . - لوستل ، چک کول / صحیح کول که ضرورت وو .	

درسي پلان: ر2-28	ددې درسي پلان په باب څۀ نورې تبصرې

(1) ماشومانو له په ګډه سره 2 + 2 + 2 ..... وئيل په کار دی ؛ خو وارې چې دوی „2“ و وائی هغه هومره ځل ورته په ګوتو اشاره کول . په دې طريقه به دوی د „2“ نز مينځه ارتباط معلوم کړی ، خو وارې چې „2“ وئيلے شی (3) ، نتيجه به ئې (6) وی

مثال : هرکله چې دوی په ټوره تخته لولی (يا استاد پسې ئې تکراروی)

2 + 2 + 2 ، دوی به ورته په ګوتو اشاره کوی چې „2“ درې ځل ووئيلے شو ، او د 2 + 2 + 2 په جمع سره به دوی نتيجه معلومه کړی: 6 . په لنډه طريقه به دا عمل داسې ليکلے کيږی : 3 + 2 = 6 (درې ځل دوه برابر دی دشپږو)

ځکه چې دا ښنه (x) د ضرب علامه ده .

(2) هرکله چې ماشومان د دوو عددونو نزمينځه دا „x“ علامه وګوری ، نو استاد به احتياط کوی چې دوی دا په صحيح طريقه وګوری . (دا به په داسې طريقه ښه ليکلے کيږی چې داسې „+“ ښکاره شی) .



د ړومبۍ وړپسۍ درس خاکه	عنوان: مختلف دوه‌ګونه پۀ ضرب کښې مکمل‌ول

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات
1- ړومبے پۀ میز د استاذ دوه پنسلونه ایښودل ، بیا نور دوه . د یو شاګرد راښل چې راشی او هغه څۀ بیان کړی چې استاد وکړل . د شاګر وئیل چې استاد دوه واړې "2" پنسلونه پۀ میز کښبودل .	پنسلونه
2- د استاد غوښتنه کول چې دواړه مساوانونه پۀ توره تخته ولیکئ ، د جمع او د ضرب .	توره تخته
3- د ماشوم لیکل (2 + 2 = 4 ؛ 2 × 2 = 4)	
4- دا فعالیت به د مختلفو شمیرو د پنسلونو د ګروپونو پۀ ذریعه تکرارولے شی او ماشومان به پۀ توره تخته مساوات لیکی ، همیشه به د ضرب او جمع دواړه مساوات لیکی .	
5- د استاذ 4 × 2 = وئیل او پۀ توره تخته لیکل . د ماشومانو نه غوښتنه کول چې خومره پنسلونه به پۀ میز ایښودلے کیږی . د ماشومانو مخې نه را تلل ، د پنسلونو سره صحیح عمل کول ؛ یعنې څلور ځل "2" پنسلونه ایښودل .	پنسلونه
6- پۀ بحث کښې د استاذ مدد کول ، د نتیجې معلومول ، د یو ماشوم پۀ توره تخته بکس مکمل‌ول	توره تخته
7- د هم دغه شان مثالونو سره جاری ساتل .	
8- مشق پاڼې ر2-28-2 ته د کتلو غوښتنه کول ، د ماشومانو کتل او بیا نول ، همیشه پۀ "2" کښې د دې مختلف ګروپونه معلومول .	مشق پاڼه ر2-28-2
9- کۀ ضرورت وو نو د استاذ د اولنی مثال وضاحت کول .	
10- د ماشومانو د بکسونو پۀ ډکولو سره د مشق پاڼې مکمل‌ول .	
11- د انډی وال سره مقابله کول ، ټول کلاس ته پۀ اوچت اواز لوستل .	



دوئیم ورپسې درس	عنوان: د دوه ګونې د ګروپونو د معلومولو نور مشق
خاکه ر2-28	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسي معاونات
1- ذهني مشق: د استاد د 2ـ پو شمېر وئېل لکه 2 + 2 + 2 + 2 ؛ د شاګردانو نه غوښتنه کول چې خو ځل هغه/ هغې 2ـ وئېل ؛ هغه شاګرد چې جواب ووائي پۀ توره تخته به د ضرب مساوات ليکي . کۀ چېرې شاګرد صحيح جواب ورکړي نو هغه/هغې ته اجازت دے چې د 2ـ پو بل شمېر ووائي (لکه: 2 + 2 + 2) د ټولګي نه د مساوات پۀ باب پوښتنه کول ، هغه شاګرد چې صحيح جواب ووائي ورته اجازت دے چې هم پۀ دغه طريقه د بل سوال پوښتنه وکړي، او دغسې نور	توره تخته
2- پاسنۍ مشغله پۀ توره تخته د 2ـ د شمېرې پۀ ليکلو سره بدلېدے شي (لکه: 2 + 2 + 2 + 2 =) ؛ د شاګردانو نه پۀ صحيح لنډه طريقه دوئېلو غوښتنه کول (يعنې 4 × 2) .	
3- مشق پانړې ر 2 - 28 - 3 ته د کتلو غوښتنه کول ؛ پۀ يو مثال بحث کول ، د مشق پانړې مکمليول ؛ صحيح کول.	مشق پانړه ر2 - 28 - 3
4- مشق پانړې ر2 - 28 - 4 ته د کتلو غوښتنه کول . د ماشومانو ورته کتل، پۀ کار بحث کول ؛ بکسونه د 2ـ پۀ ليکلو سره ډکول ؛ پۀ مېخ کښې د جمع علامه لګول ؛ پاتې بکسونه تورول ، پۀ اخرې بکس کښې جواب هم ليکل .	مشق پانړه ر2-28-4
5- د استاد چک کول ، د ضرورت پۀ وخت مدد کول .	

ر٢ \ ٢٨ - ٣	
٢ + ٢ + ٢ + ٢ + ٢ + ٢ + ٢ + ٢ = ☐ × ٢	٢ + ٢ = ☐ × ٢
٢ + ٢ + ٢ + ٢ + ٢ + ٢ + ٢ + ٢ + ٢ = ☐ × ٢	٢ + ٢ + ٢ = ☐ × ٢
٢ + ٢ + ٢ + ٢ + ٢ = ☐ × ٢	٢ + ٢ + ٢ + ٢ + ٢ = ☐ × ٢
٢ + ٢ + ٢ + ٢ + ٢ + ٢ + ٢ + ٢ = ☐ × ٢	٢ = ☐ × ٢
٢ + ٢ + ٢ + ٢ + ٢ + ٢ + ٢ = ☐ × ٢	٢ + ٢ + ٢ + ٢ = ☐ × ٢

ر٢ \ ٢٨ - ٢	
٨ × ٢ = ☐	٢ + ٢ + ٢ + ٢ + ٢ + ٢ + ٢ + ٢ = ١٦
٦ × ٢ = ☐	☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ = ☐
٣ × ٢ = ☐	☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ = ☐
٩ × ٢ = ☐	☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ = ☐
٥ × ٢ = ☐	☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ = ☐
١ × ٢ = ☐	☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ = ☐
٤ × ٢ = ☐	☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ = ☐
٧ × ٢ = ☐	☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ = ☐
٢ × ٢ = ☐	☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ = ☐
١٠ × ٢ = ☐	☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ ☐ = ☐

عنوان: د «2» د پاړې (ضرب زبانی) معرفی کول

ل 2 ـ 29

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسی معاونات
	1ـ د دوه ګونو د جمع او ضرب تکرار	
ـ پۀ خاموشۍ سره پۀ تخته لیکل 2 + 2 + 2 ، 2 × 5 2 + 2 + 2 + 2 + 2 ، 2 × 3 پۀ دې د سوچ کولو د پاره ماشومانو له وخت ورکول. ـ غوښتنه کول چې د یوشان نتیجه لرونکی یکسونه د کرښې پۀ ذریعه یوځای کړئ.	ـ پۀ خاموشۍ سره نورې تختې ته کتل، معلومول چې د کوم اړخ د یو بکس او د بلې اړخ د یو بکس نتیجه یوشان ده (لکه د 2 × 2 = او د 3 × 2 = یوشان نتیجه ده: 6). ـ د کرښې پۀ ذریعه د بکسونو یوځای کول.	تخته
ـ پۀ تخته نور مثالونه ورکول (لکه: 2 + 2 ، 7 × 2 2+2+2+2+2+2+2 ، 4 × 2 2+2+2+2 ، 2 × 2	ـ د هغه بکسونو معلومول چې یوځای کېدلے شی؛ دا د کرښو پۀ ذریعه یوځای کول.	
	2ـ د «2» د پاړې (ضرب زبانی) د نمونې جوړول	
ـ پۀ لسو شاګردانو لس ځله دوه دوه کانړی تقسیمول، د ټولګی مخې ته ورته د ودرېدو ویښا کول. ـ پۀ تخته لیکل 1 × 2 = ؛ د مساوات پۀ اندازه د کانړو د شمېر د ښودلو غوښتنه کول. ـ پۀ تخته 2 × 2 = لیکل. (1) ـ د ماشومانو د قطار سره تلل، ماشومانو ته اشاره کول او پۀ اوچت اواز د شمارلو غوښتنه کول او مدد کول: «1 × 2 = 2، 2 × 2 = 4، 3 × 2 = 6، ..... 10 × 2 = 20» ـ د نتیجو د معلومولو غوښتنه کول. ـ هم پۀ دغه طریقه د بوڅو نورو مثالونو سره جاری ساتل (لکه: 8 × 2 = ، 6 × 2 =)	ـ د لسو شاګردانو څخه هر یو سره دوه دوه کانړی د ټولګی مخې ته او درېدل، د خپلو خپلو کانړو ټولګی ته ښودل. ـ د یو ماشوم/ماشومې لاس اوچتول او خپل دوه کانړی ښودل. ـ د دوو ماشومانو لاسونه اوچتول او دوه ځله دوه کانړی ښودل. ـ د استاد سره پۀ یوځای پۀ اوچت اواز شمارل، د هر یو ماشومانو د قطار سره د تللو پۀ وخت د دغه شمېرې تکرارول؛ ماشومانو ته اشاره کول.	20 کانړی تخته
	ـ وټیل او پۀ تخته لیکل 2 × 10 = 20 ـ هم دغه شان عمل کول (د کانړو د دغه شمېر ښودل، شمارل/اشاره ورته کول/د نتیجې معلومول).	
	3ـ د «2» د پاړې (ضرب زبانی) لیکل د نقطو یکسونه د متعلقه مساواتو سره یوځای کول	
ـ مشق پانړې ر2-29-1 ته د ځۀ وخت د پاره کتل؛ د دوو نقطو د بکس او د پورتنۍ مساوات تر مینځه تعلق معلومول. ـ معلومول چې د نقطو کومه پټه بڼه دې مساواتو سره تړلې کېږي. ـ د ټول کلاس هم دغه شان عمل کول؛ د حلونو معلومول. ـ د مشق پانړې مکملول. ـ د حلونو یو پۀ بل بدلول. ـ ټول ټولګی ته لوستل/پۀ یاد د «2» د پاړې (ضرب زبانی) عددی سلسله وټیل.	مشق پانړه ر2-29-1

درسي پلان: ر2-29	ددې درسي پلان په باب څه نورې تبصرې

(1) اولنۍ ماشوم چې کله دوه کانړۍ وښائي نو د قطار يو سرته به ودريږي . د
2 x 2 = د بنودلو دپاره به هم دغه ماشوم او ورسره يو کاونډۍ ماشوم خپل
لاسونه اوچت کړي او 2 x 2 کانړۍ به وښائي . هم دغه شان ورپسې کله چې
2 x 3 = 2 x 4 ..... وغيره بنودل وي .
نوټول اولنۍ شامل شوي ماشومان به بيا خپل کانړۍ بنائي .



د پوهنې وړپسې درس	عنوان: د «2» پاړې (ضرب زیاتی) عددی سلسله معلومول
خاکه ر2-29	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات
1- د استاد په ملاتړ تخته لیکل. □ = 2 × 1 □ = 2 × 2 د ماشومانو د صحیح جوابونو د ورکولو کوشش کول، او ددې په وړاندې بکسونو کښې لیکل.	تخته
2- د پاړې (ضرب زیاتی) د جاری ساتلو د پاره د استاد غوښتنه کول؛ د یوماشوم په تخته لیکل 3 × 2 = □، د نورو حلول، د یوماشوم بکس ډکول، د 10 × 2 = □ پورې جاری ساتل.	
3- د مکملې پاړې (ضرب زیاتی) کلاس ته د لوستلو د پاره د استاد ویناکول (سوالونه او حلونه) نورې تختې ته کتل؛ بیا د تختې سفاکول او په یادو د پاړې (ضرب زیاتی) د تکرارولو غوښتنه کول (سوالونه او حلونه)؛ د ماشومانو دا څو وارې کول.	
4- د استاد مشق پاڼې ر2-29-2 ته دکتلو بلنه ورکول؛ د ماشومانو کار معلومول یعنې په وړو بکسونو کښې د حلونو لیکل او په صحیح بکس کښې د متعلقه نقطو جوړول. د ماشومانو د دوو دوو په جوړو کښې د مشق پاڼې مکملول؛ د استاد چک کول.	مشق پاڼه ر2-29-2

ر۲ | ۲۹ - ۲

۱ × ۲ = □
۲ × ۲ = □
۳ × ۲ = □
۴ × ۲ = □
۵ × ۲ = □
۶ × ۲ = □
۷ × ۲ = □
۸ × ۲ = □
۹ × ۲ = □
۱۰ × ۲ = □

دوئیم ورپسې درس	عنوان: پۀ یادو د «2» پاڑه (ضرب زبانی) زده کول؛ د «ضرب» اصطلاح زده کول
خاکه ر 2-29	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات
1- د «2» د پاڑې د ټولو سوالونو اوحلونو د وئیلو د پاره د استاد ویناکول، یوپۀ یو څو وارې وئیل، د 1 × 2 = 2 نه تر 10 × 2 = 20 پورې شروع کول.	
2- پۀ تورہ تختہ د استاد د «2» د پاڑې (ضرب زبانی) یو عدد لیکل لکہ «8»، پوښتنہ کول چې پۀ اول کښې څو ځل «2» ووائیو چې «8» نزې جوړشی؛ پۀ تورہ تختہ د «8» سرہ 2+2+2+2 = 8 = 4 × 2 لیکل.	تورہ تختہ
3- هم دغہ شان پۀ نورو عددونو سرہ جاری ساتل لکہ 16، 12، 20؛ هرځل پۀ تورہ تختہ مساوات لیکل.	
4- مشق پاڼې ر2-29-3 نہ د کتلو بلدتہ ورکول؛ پۀ پاسنۍ حصہ بحث کول؛ د شاګردانو دغہ حصہ مکملول؛ پۀ آخرہ کښې ټول ټوکې تہ د دغہ حلونو لوستل، چک کول صحیح کول.	مشق پاڼہ ر2-29-3
5- منځنۍ برخې تہ د کتلو غوښتنہ کول («20» پورې)؛ د کار معلومول یعنې د «2» د پاڑې (ضرب زبانی) د ټولو عددونو نہ دائیرہ تاوہ ول.	
6- هم دغہ شان پۀ لاندینۍ برخې کارکول یعنی دواړہ اړخونو تہ د عددونو سلسلہ مکملول.	



دویم وړپی درس	عنوان:	پۀ لس ګیزونو کښې جمع او تفریق کول
خاکه ر2-02		

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات
1ـ ذهني تربیه ورکول: د0 - 100 پورې او د100 نه مخ پۀ شا پۀ لس ګیزونو کښې شمار کول.	
2ـ د ماشومانو د لسولسو پۀ قدمونو کښې د 0 - 100 پورې پۀ خپلو سلیټونولس ګیزونه لیکل (او پۀ تور تخته).	سلیټونه/تور تخته
3ـ د مشق پاڼې ر2-02-3 د پاسنۍ برخې پاسنی قطار ځانله مکمل کول: (الف) پۀ اخر کښې د اوسنل، (ب) چک کول، صحیح کول.	مشق پاڼه ر2-02-3
4ـ د استاد پۀ تور تخته لیکل لکه 10 + 30 = ☐ او 50 - 10 = ☐، د شاګردانو پۀ تور تخته د عددي سلسلې (0-100) پۀ مدد سره د مساواتو مکمل کول.	تور تخته
5ـ د مشق پاڼې ر2-02-3 د منځنۍ برخې مساوات مکمل کول: (الف) پۀ اخره کښې ګې ټول ټوکې ته لوستل، (ب) مقابله کول، صحیح کول.	مشق پاڼه ر2-02-3
6ـ پۀ تور تخته د مشق پاڼې ر2-02-3 د لاندینۍ برخې پرمیې مساوات مکمل کول.	تور تخته
7ـ د مشق پاڼې ر2-02-3 د لاندینۍ برخې مساوات د خپلواندی والا نوسره مکمل کول: (الف) پۀ اخره کښې ګې ټول ټوکې ته لوستل، (ب) مقابله کول، چک کول.	مشق پاڼه ر2-02-3

ر-۲ | ۰۲-۳

۱۰	۲۰			۵۰			۸۰		
۱۰ + ۳۰ = ☐			۵۰ - ۱۰ = ☐			۵۰ + ۴۰ = ☐			
۲۰ + ۴۰ = ☐			۶۰ - ۴۰ = ☐			۱۰۰ - ۵۰ = ☐			
۳۰ + ۵۰ = ☐			۷۰ - ۶۰ = ☐			۷۰ + ۳۰ = ☐			
۴۰ + ۶۰ = ☐			۸۰ - ۱۰ = ☐			۱۰۰ - ۷۰ = ☐			

۱۰۰ - ۵۰ + ۳۰ = ☐		۲۰ + ۸۰ - ۳۰ = ☐
۹۰ - ۶۰ + ۲۰ = ☐		۴۰ + ۴۰ - ۴۰ = ☐
۸۰ - ۶۰ + ۱۰ = ☐		۶۰ + ۴۰ - ۱۰۰ = ☐
۷۰ - ۳۰ + ۲۰ = ☐		۹۰ + ۱۰ - ۱۰ = ☐

ریاضی ـ دویم ټولګی	عنوان: د ۵ ـ پاړه (ضرب زبانی) معرفی کول
ر 2 ـ 30	

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسی معاونات
	1ـ ذهنی تربیت	
ـ د ۲ ـ د پاړې (ضرب زبانی) نه زبانی کارونه ورکول لکه: 4 × 2 ، 8 × 2 ، 1 × 2	ـ جواب ورکول، په توره تخته لیکل لکه: 4 × 2 = 2 + 2 + 2 + 2 = 8 ..... 8 × 2 = 2 + 2 + 2 = ... = 16	توره تخته
ـ د دوه د پاړې (ضرب زبانی) نه عددونه ورکول لکه: 10 ، 20 ، 6	ـ جواب ورکول، په توره تخته لیکل لکه 2 × 5 = 2 + 2 + 2 + 2 + 2 = 10 2 × 10 = 2+2+2+2+2+2+2+2+2+2 = 20 2 × 3 = 2 + 2 + 2 = 6	
	2ـ په 5 کښې ضرب ورکول	
ـ 5 طالب علمانو نه غوښتنه کول چې د کلاس مخې ته په یو قطار کښې ودریږی؛ وئیل چې هغه 35 ګوتې لیدل غواړی (35 په توره تخته لیکل)	ـ د کلاس مخې ته د طالب علمانو بحث کول، ترتیب ورکول؛ په آخر کښې د دریو و دواړه لاسونه اوچتول او د یو طالب علم صرف یو لاس اوچتول.	توره تخته
ـ څه ؤ چې طالب علمان وینی د هغو د بیانولو غوښتنه کول.	ـ وئیل چې هغوئ 7 لاسونه وینی، د هر لاس 5 ګوتې چې ټولې یو ځای 35 ګوتې کیږی.	
ـ څه ؤ چې دوئ وینی د هغو په هندسو او علامتونو کښې د لیکلو بلنه ورکول، د جمع د شکل د معلومولو په حقله مرسته کول (یعنې 35 = 5+5+5+5+5+5+5 (1)	ـ معلومول چې 5+5+5+5+5+5+5 ګوتې دی، دا په توره تخته لیکل.	
ـ د ضرب په مختصر شکل کښې د دې د لیکلو بلنه ورکول (د ضرورت په وخت مرسته کول د دې پوښتنې کولو په ذریعه چې څومره پنځه ؤ جمع کړے شوی دی.)	ـ معلومول چې 7 ځله پنځه ؤ جمع کړے شوی دی؛ په توره تخته جمع سره نزدې 35 = 5 × 7 لیکل.	
ـ د ۵ ـ د پاړې (ضرب زبانی) نه دیوځو نورو عددونو په ذریعه هم دغه عمل جاری ساتل؛ لکه: 15، 50، 30، 20، 45 (2)	ـ د مخکښې په شان عمل کول (د جمع او د ضرب دواړو معلومول، دا په توره تخته لیکل.)	
	3ـ د ۵ ـ د پاړې (د ضرب زبانی) مکمل	
ـ مشق پانړې ر2 ـ 30 ـ 1 نه د کتلو غوښتنه کول؛ په مثال بحث کول؛ د بل کار د مکملولو غوښتنه کول (یعنې 6 × 5).	ـ په کار ځان پوهول، د بل کار مکملول.	مشق پانړه ر2-30-1 پینسلونه
ـ بلنه ورکول چې هرماشوم ځانله ځانله مشق پاڼه مکمله کړی.	ـ د مشق پانړې ځانله ځانله مکملول؛ په آخر کښې ټې کلاس ته لوستل؛ د نتیجو بیانول.	

درسی پلان: ر2 -30	ددې درسی پلان پۀ باب څۀ نورې تبصرې

1، کېدے شی چې ماشومان سمدستی د ضرب پۀ شکل (7 × 5) شروع وکړی .
پېداسې حال کښې داقدم روښې کول پکاردی او د جمع دا شکل(5+5+5+5+5+5+5)
دې ډوېم قدم پۀ طور وښودلے شی .

2، پۀ کارده چې پۀ آخر کښې د تورې تختې کار ځانته یومرتب شکل وښیسی مثلاً،

5 X 6 = 5 + 5 + 5 + 5 + 5 + 5 = 30
5 x 3 = 5 + 5 + 5 = 15
5 x 10 = 5 + 5 + 5 + 5 + 5 + 5 + 5 + 5 + 5 + 5 = 50
5 x 4 = 5 + 5 + 5 + 5 = 20
5 x 9 = 5 + 5 + 5 + 5 + 5 + 5 + 5 + 5 + 5 = 45

۱ — ۳۰	۲ر
	۱۵ = ۵ × ۳
	= ۵ × ۶
	= ۵ × ۸
	= ۵ × ۹
	= ۵ × ۷
	= ۵ × ۱۰
	= ۵ × ۴
	= ۵ × ۵

د ډومبی وړپی درس	عنوان: "د 5 د پاړې (ضرب زبانی)" مکمل ول
خاکه	ر 2 - 30

د شاګردانو / استاد مشغلې	درسی معاونات
1- د 10 طالب علمانو دکلاس مخې ته راتلل ، د هریو پۀ لاس کښې یوه لښته ده .	50 لښتې (د پنسلونو هومره اوږدې)
2- د استاذ پۀ توره تخته $1 \times 5 =$ ☐ لیکل ، غوښتنه کول چې هومره لښتې چې کړۍ د خومره چې پۀ مساوات کښې مطالبه شوېده . د یو طالب علم "5" لښتې اوچتول ؛ د نورو نتیجه ښودل ، پۀ توره تخته $1 \times 5 = 5$ لیکل .	
3- د استاذ پۀ توره تخته $2 \times 5 =$ ☐ لیکل ، دکلاس مخې ته ولاړو طالب علمانو نه غوښتنه کول چې هم دغسې عمل وکړی ؛ د دوو طالب علمانو هریو "5" لښتې اوچتول ؛ د نورو نتیجه ښودل ، پۀ توره تخته $2 \times 5 = 5 + 5 =$ 10 لیکل	
4- د استاذ / طالب علمانو هم دغه شان تر $10 \times 5 = 5 + 5 + 5 \cdots\cdots =$ 50 پورې عمل جاری ساتل .	
5- د استاذ مشق پانړې ر 2 - 30 - 2 ته دکتلو غوښتنه کول ؛ څۀ چې کول پکار دی د طالب علمانو د هغې معلومول .	مشق پانړه ر 2 - 30 - 2 پنسلونه
6- د طالب علمانو پخپله د مشق پانړې پکول ؛ د استاذ چک کول ؛ پۀ آخر کښې د طالب علمانو د نولو نتیجو کلاس ته لوستل .	
7- د استاذ د پورو زبانی کارونو ورکول لکه $3 \times 5 =$ ☐ ، $9 \times 5 =$ ☐ ، $4 \times 5 =$ ☐ طالب علمانو نه غوښتنه کول چې پومیې د مشق پانړې ر 2 - 30 - 2 پۀ مرسته نتیجې معلومې کړی ، بیا بغیر د دغې مرستې نه نورې پورې نتیجې زبانی معلومې کړی .	مشق پانړه ر 2 - 30 - 2

ر ۲ | ۳۰ - ۲

	☐ = ۵ × ۱
	☐ = ۵ × ۲
	☐ = ۵ × ۳
	☐ = ۵ × ۴
	☐ = ۵ × ۵
	☐ = ۵ × ۶
	☐ = ۵ × ۷
	☐ = ۵ × ۸
	☐ = ۵ × ۹
	☐ = ۵ × ۱۰

دوئیم وړیې درس	عنوان:	درسی معاونات
خاکه ر2-30	"د 5 د پاړې (ضرب زبانی)" مشق کول	

د شاګردانو/استاد مشغلې

1- ذهنی تربیت: د استاذ پوښتنې کار زبانی ورکول لکه $5 \times 3 = \square$ ؛ د نتیجې پۀ حقله غوښتنه کول ؛ کوم طالب علم چې صحیح جواب ورکوی هغۀ ته اجازت دے چې د "5 د پاړې (ضرب زبانی)" نه د یوښل سوال پحقله د یو بل طالب علم نه پوښتنه وکړی (لکه $5 \times 9 = \square$) او داسې نور.

2- یو اتن یوال سره "د 5 د پاړې (ضرب زبانی)" لوبه کول: مثلاً د یو طالب علم پوښتنه کول، $5 \times 6 = \square$، د اتن یوال جواب ورکول ؛ بیا د اتن یوال د همدغسې سوال پوښتنه کول لکه "$5 \times 10 = \square$" اوداسې نور، وار پۀ وار خو خو ځله.

3- لوبه جاری ساتل خو صرف نتیجې ښودل، لکه "20"؛ د اتن یوال جواب ورکول $5 \times 4 = 20$؛ او داسې نور، بیا وار پۀ وار.

4- د مشق پاڼې ر2-30-3 پاسخه برخې نه کتل، پۀ پومې کار بحث کول ؛ د مشق پاڼې پاسخه برخه مکمل ؛ پۀ آخر کښې نتیجې کلاس ته لوستل، چک کول. معلومولو چې دوه سوالونه د پخوا تهبل (جدول) سره تعلق نۀ لری.

5- د مشق پاڼې منځنۍ برخې ته کتل ؛ پۀ کار ځان پوهول ؛ مکمل ؛ کلاس ته لوستل، چک کول.

6- د مشق پاڼې پۀ لاندینۍ برخه بحث کول ؛ دا مکمل ؛ عددونه پۀ یادو زده کول.

مشق پاڼه ر2-30-3 پښتلونه



ریاضی - دویم ټولګی	عنوان:	پۀ لسیزو او واحدونوکښې جمع او تفریق کول
ل 2 - 03		

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسی معاونات
	1- پۀ لسیزوکښې جمع او تفریق کول	
- د لسو شاګردانو نه غوښتنه کول چې هر یولس لس کانړې د استاذ مېز نه راوړي (1) اوداپۀ دوو پرو (اښاروونې) کښې دي (2)	- د 5- طالب علمانو د مېز نه پۀ یو اړخ اود نورو 5- د مېز نه پۀ بل اړخ خپل کانړې ایښودل.	مېز
- غوښتنه کول چې پۀ مېز د پرتو کانړو شمېر اندازه وکړي.	- د پرو شاګردانو خپلې اندازې بیانول، دغه عددونه پۀ تور تخته لیکل.	لس لس کانړې تور تخته
- د کانړو د شمېر بلنه ورکول.	- د دوؤ شاګردانو څخې ته راتلل دیو ډکې خوا د کانړو شمار لکه (50) د بل دبنې خوا د کانړو شمار لکه (50)	
- د مکملې عددي قیمې دوئیلو اود مساوات د لیکلو غوښتنه کول.	- بیا نول چې څۀ وشول، او لیکل 50+50=100	تور تخته
- د طالب علمانونه غوښتنه کول چې خپلو اندازو سره ګډ مقابله وکړي.	- د اندازه کړې شوو عددونو سره پۀ مقابله کول، معلومول چې څوک صحیح دي.	
- پۀ مېز د پرتو کانړو پۀ شان پۀ تور تخته د نقطو نه د کانړو ډېرې جوړول.	- پۀ غورکنټل، چک کول چې ایا د نقطو ډېرې پۀ مېز د پرتو کانړو سره سمون خوري.	مېز، کانړې تور تخته
- د ستړکو د پنډولو وینا کول، د دبنې اړخ کانړو د ډېرې نه ګڼ اړخ ته خلور کانړې د اسې اړول چې یو نوے ډېر جوړشي.	- د ستړکې پنډول، بیا پرا نستل (کنټل) معلومول چې څۀ وشول، د یو څو شاګردانو ئې پۀ خپلو الفاظو کښې بیا نول.	
- څۀ چې پۀ مېز وشول پۀ تور تخته دهغې د جوړولو غوښتنه کول. (3)	- معلومول چې د دبنې اړخ د یو ډېرې نه پۀ خلورو دائرو/نقطو (کانړو برابرې) چرخې لګول او پۀ ګڼ اړخ د یو نورې د ډېرې جوړولو د پاره خلور دائرې/نقطې (کانړو برابرې) جوړول پکار دي؛ یو شاګرد دا پۀ تور تخته جوړوي.	نوره تخته
- د عددي قیمو دوئیلو او د مساوانو د لیکلو غوښتنه کول.	- د څو ماشومانو عددي قیمې وئیل د دوو ماشومانو پۀ تور تخته د مساوانو لیکل 54 = 4+50 46 = 4-50	
	2- د کانړو، نقشو یرونو او مساوانو پۀ استعمال سره د جمع او تفریق مشق کول	
- بیا د ستړکو د پنډولو غوښتنه کول، باقي پاتې، 6 کانړې دبنې اړخ د کم کړې شوې ډېرې نه ډکې خوا نوې ډېرې ته اړول.	- ستړکې پنډول، بیا معلومول چې دبنې اړخ د لسو کانړو یو ډېرے عیب شوے دے او د لسو کانړو یو نوے ډېرے ګڼې خوا ته جوړ شوے دے.	کانړې
- د عددي قیمو دوئیلو او د مساوانو د لیکلو غوښتنه کول.	- د څو ماشومانو عددي قیمې وئیل د دوو شاګردانو لیکل: 46-6=40 ، 6+54=60	تور تخته
- طالب علمانونه د مساوانو د لیکلو غوښتنه کول چې پۀ تور تخته څۀ کول پکار دي.	- د یو طالب علم د تورې تختې دبنې اړخ نه کانړې چرخې کول، ګڼ اړخ ته 6- تورې دائرې/نقطې (کانړې) جوړول.	
- طالب علمانونه د مساوانو د لیکلو غوښتنه کول.	- د دوو طالب علمانو لیکل: 54+6=60 ، 46-6=40	
	3- د جمع او تفریق مشق جاري ساتل	
- هم دغه شان نور د ډېر مشقونه ورکول، کله د استاد پخپله کانړې اړول او کله ماشومانو نه پۀ دې حقله وینا کول (4)	- د شاګردانو پۀ کارونو پوهېدل، د کانړو اړول، چرخې کول د کانړو جوړول، مساوات لیکل.	کانړې، تور تخته

درسي پلان: ر2 - 03	ددې درسي پلان په باب څه نورې تبصرې

(1) کانړې به د سبق د ښودلو نه مخکښې را غونډولے شی. استاد به د کانړو د شمېر اندازه نه ښاڼ چې د ماشومانو په ذهن کښې د مخکښې نه دانه وی چې دا 100 کانړے دی.

(2) د کانړونه به د لسولسو کانړو لس ډبرې جوړولے شی، 5 ډبرې به ښې اړخ ته او 5 ډبرې به کڼ اړخ ته وی.

د پلاسټک لس داسې ټیلې استعمال کړئ چې په هره یوه کښې لس لس کانړې وی. دا د ددې او نورو مشقونو دپاره کېښودے شی (درسی پلان ر2 - 10 وګورئ)

(3) د تفریق اوجمع د عملیاتو وضاحت به پومبے د کانړو په استعمال سره کېږی؛ بیا د چرخی کولو/ د دائرو جوړولو او بیا د مساوات په لیکلو سره. د چرخی کولو، د کانړو د جوړولو او د متعلقه مساواتو وضاحت استعمال په مشق پاڼه ر2 - 03 - 1 کښې شوے دے چې هغه به استاد په ښه شان د سبق د شروع کولونه مخکښې مطالعه کوی. (دا مشق پاڼه به په ورپسې درس نمبر اول کښې استعمالیږی)

(4) د کانړو بدلون به همیشه مکمل لسیزو ته رسولے شی مثلاً:

62 = 2 + 60	38 = 2 - 40
70 = 8 + 62	30 = 8 - 38
73 = 3 + 70	27 = 3 - 30
80 = 7 + 73	20 = 7 - 27
85 = 5 + 80	15 = 5 - 20
90 = 5 + 85	10 = 5 - 15
94 = 4 + 90	6 = 4 - 10
100 = 6 + 94	0 = 6 - 6

د ورومبۍ وړپسې درس	عنوان :
خاکه ر2 - 03	دجمع اوتفریق پۀ ذریعه مکملو لسیزو ته درسیدلو دپاره نورمشق کول

د شاګردانو / استاد مشغلې	درسی معاونات
1 - ذهنی تربیت : وړپسې مکملو لسیزونه ریسپدل ، د سوالونو (کار) پو سلسله استعمالول چې ټول یوشان واحدونه لري ، (مثلاً : د استاد 14 ، د شاګردانو 6 + 14 = 20 وئیل ، داستاد 24 ، د شاګردانو 6 + 24 = 30 وئیل وغیره ، ترسلو 100 پورې) بیا یوه بله د مختلفو واحدونو سلسله لکه 17 ، 17 + 3 = 20 ، 27 ، 27 + 3 = ... وغیره .	مشق پاڼه ر2- 03 -1
2 - مشق پاڼې ر2- 03-1 ته کتل ، بیا ټول چې پۀ رومبی قطار کښې څۀ وشول (د 50 کانړو نه 7 کانړې چرخ کړے شوی دی ؛ 50 - 7 = 43 ، هم دا 7 کانړی د نورو 50 کانړو سره جمع کړے شوی دی 50 کانړو سره 7 کانړی ګڈې خوانته د جوړولو پۀ ذریعه : 50 + 7 = 57	
3 - پۀ بل کار بحث کول (43 = 3 - 40) د بنی خوا پاسنی قطار کښې پاتې 3 کانړی چرخ کول ، او مینځنۍ قطار پۀ پاسنی بکس کښې ئې جوړول (57 + 3 = 60) .	
4 - دانړې وال سره د جاری سانلو غوښتنه کول ؛ پۀ اول کښې نا مکملو مساواتو ته کتل بیا چرخ کول / د دائرو جوړول او بیا هم پۀ دغه کرښه کښې دواړه مساوات مکملول .	
5 - بیا د شاګردانو ټول مساوات لوستل ؛ چک کول ، د ضرورت پۀ وخت کښې صحیح کول	



دویم وړپسې درس	عنوان: مکمل‌ولسیزونه درسیدلو دپاره جمع او تفریق کول
خاکه ر2-03	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسي معاونات
1 ــ ذهني تربیت: د تفریق یوه داسې سلسله حلول چې ټول هم د هغو عددونو نه شروع کیږي چې یوشان واحدونه لري، (لکه د استاد وئیل «94» د شاګردانو 94 - 4 = 90 وئیل د استاد «84» د شاګردانو 84 - 4 = 80 وئیل وغیره)	
2 ــ د مشق پاڼې ر2-03-2 پاسنۍ قطار ته کتل، په دوو مختلفو عملونو بحث کول، چې څ په وړاندې او مخ په شا دلسیز مکمل ته رسي.	مشق پاڼه ر2-03-2
3 ــ د مشق پاڼې ټول مساوات د خپل انډې وال سره مکملول. (الف) د ټولو نتیجو لوستل، (ب) مقابله کول، چک کول.	
4 ــ د استاد هغه کارونه را خیستل چې مشکلات لري. تشریح کول/ په توره تخته ټې لیکل.	توره تخته

ر2 | 03-2

٦٨ + [٢] = ٧٠	(٦٨)	٦٨ - [٨] = ٦٠
٣٤ + [ ] = ٤٠	(٣٤)	٣٤ - [ ] = ٣٠
٧٩ + [ ] = ٨٠	(٧٩)	٧٩ - [ ] = ٧٠
٥٢ + [ ] = ٦٠	(٥٢)	٥٢ - [ ] = ٥٠
٢١ + [ ] = ٣٠	(٢١)	٢١ - [ ] = ٢٠
٨٧ + [ ] = [ ]	(٨٧)	٨٧ - [ ] = [ ]
١٦ + [ ] = [ ]	(١٦)	١٦ - [ ] = [ ]
٦٣ + [ ] = [ ]	(٦٣)	٦٣ - [ ] = [ ]
٥٥ + [ ] = [ ]	(٥٥)	٥٥ - [ ] = [ ]
٢٤ + [ ] = [ ]	(٢٤)	٢٤ - [ ] = [ ]
٥٠ + [ ] = [ ]	(٥٠)	٥٠ - [ ] = [ ]

ریاضی - دویم ټولګی | عنوان: پۀ لسیزونو کښې جمع او تفریق کول (بغیر د انتقال نه)

ر 2 - 04

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسي معاونات
	1 - د مکمل لسیزنه تر بل مکمل لسیز پورې مخ پۀ وړاندې او مخ پۀ شا شمېر کول	
- پۀ ټوره تخته یو مکمل لسیز لیکل لکه 80، غوښتنه کول چې د مکمل ګڼوا ندې لسیز 90، پورې مخ پۀ وړاندې شمېر وکړئ .	- اول یو شاګرد د 90، پورې شمېر کوي، بیا ټول شاګردان پۀ ګډه تر 90، شمېر کوي .	ټوره تخته
- د مخ پۀ شاګوانډې مکمل لسیز (70) پورې د شمېرلو غوښتنه کول .	- اول یو شاګرد مخ پۀ شا د 70، پورې شمار کوي او بیا ټول شاګردان پۀ ګډه تر 70، پورې مخ پۀ شا شمار کوي .	
- هم دغه شان جاري ساتل تر مکمل لسیز پۀ ټوره تخته لیکل .	- اول یو ماشوم او بیا ټول ماشومان مخ پۀ وړاندې او مخ پۀ شا د ګاونډې لسیز پورې شمار کوي	
	داعدادو دسلسلې پۀ مدد سره دلسیزونو پۀ منځ کښې واحدونو جمع او تفریق کول	
- د یوولسو 11، شاګردانو نه غوښتنه کول چې پۀ خپلو سلیټونو د 50، نه تر 60، پورې ټول اعداد غټ غټ ولیکئ (1)	- اولنۍ ماشوم 50، لیکي دویم 51، لیکي دریم 52، ان تر 60، پورې .	یوولس سلیټونه یوولس عددي کارډونه د 50 نه 60، پورې
- د یوولسو واړو شاګردانو نه غوښتنه کول چې خپل سلیټونه پۀ لاسونو کښې ونیسي او د کلاس دوړاندې یو قطار جوړ کړي (2)	- یوولس شاګردان داعدادو دسلسلې مطابق پۀ یو قطار کښې اوګډه پۀ اوګه او دریږي او خپل سلیټونه اوچت نیسي .	
- پۀ ټوره تخته لیکل لکه 53 + 4 = ☐ ؛ غوښتنه کول چې د حل د معلومولو پاره بـه د شاګردانو دا قطار څنګه استعمالوو، څوماشوانو ته د حل د پیدا کولو بلـنه ورکول (3)	- خو شاګردان د حل د معلومولو کوشش کوي لکه د عدد 53 نه شروع کول او د هغه ځای نه څلور قدمونه (شاګردان) اګټې خواته روانېدل ، بکس ډکول .	ټوره تخته سلیټونه / عددي کارډونه
- هم دغه شان د 54 + 5 = ☐ او 56 + 3 = ☐ سره جاري ساتل	- د مخکښې پۀ شان عمل کول .	
- پۀ ټوره تخته 59 - 7 = ☐ لیکل ؛ دوباره دعددي سلسلې د استعمال غوښتنه کول .	- یو یا زیات ماشومان د حل د معلومولو کوشش کوي لکه 7، قدمونه بنې اړخ ته تلل او د 59، نه شروع کول، حل ته رسېدل (52)، پۀ بکس کښې لیکل .	ټوره تخته سلیټونه / عددي کارډونه
- د نورو شاګردانو او مساواتو تر نوي سره جاري ساتل مثلاً 55 - 4 = ☐ ، 57 - 6 = ☐	- شاګردان د دې عمل مظاهره د کلاس دوړاندې کوي ، پۀ بکسونو کښې لیکل .	
	3 - د عددي پټۍ / سلسلې پۀ مدد سره واحدونه جمع او تفریق کول	
- پۀ ټوره تخته یوولس بکسونه جوړول چې د 70، نه تر 80، پورې عددونه پکښې لیکلې شوي وي (4)؛ پۀ ټوره تخته دمساوات 76 - 4 = ☐ د مکملولو د پاره د بکسونو د استعمالولو غوښتنه کول .	- پۀ یولاس هغه بکس ته اشاره کول چې 76، پکښې لیکلې شوې وي ، بیا پۀ بل لاس 4، قدمونه بنې اړخ ته راتلل او 72، نه رسېدل ، د مساوات مکملول .	ټوره تخته
- د مساوات 71 + 8 = ☐ د عملي حل غوښتنه کول .	- اشاره کول ، پۀ ټوره تخته د لاس پۀ ذریعه قدم پۀ قدم تلل ، د حل معلومول او لیکل .	
- مشق پاڼې ر2 - 1 - 04 نه د کتلو غوښتنه کول ، د اندې وال سره کار کول پۀ اخره کښې د حلونو لوستل، مدد کول .	- پۀ قدمونو کښې د مساوا تو حلول، لیکل ؛ پۀ آخره کښې ټول مساوات لوستل او مقابله کول ، صحیح کول ، د ضرورت پۀ وخت یو بل سره مدد کول .	مشق پاڼه ر2 - 04 - 1

درسي پلان: ر2 - 04	ددې درسي پلان په باب څۀ نورې تبصرې

(1) کۀ چېرې چاپ شوی یا پۀ لاس لیکلے شوی عددی کارډونه موجود وو نو د سلېنټو نو پۀ ځای به استعمالېږی.

(2) هغه شاګرد چې پۀ سلېټ ټې عدد، 50 ، لیکلے وی د قطار بنی اړخ ته به دا سې ودرېږی چې نول کلاس ته ښکارے او هغه شاګرد چې پۀ سلېټ ټې عدد، 60 ، لیکلے وی هغه به د قطار کۀ ښۍ اړخ ته ودرېږی.

50 51 52 53 54 **55** 56 57 58 59 60

(3) د پېر ازمایښ دپاره دې استاد ماشومانو ته کافی وخت ورکړی. کۀ چېرې ماشومان حل معلوم نکړے شی نو استاد دې دیوماشوم نه غوښتنه وکړی چې د هغه ماشوم څنګېنې کینې چې عدد، 53 ، ورسره دے د نورو ماشومانو نه غوښتنه کول چې دا ماشوم کوم اړخ ته څو قدمونه حرکت وکړی. صحیح جواب به څوواړې تکرار ولے شی. هرکله چې څلور قدمونه اخیستے کینې نو ماشومان به ټې پۀ اوچت اواز شمارے (1، 2، 3، 4) او هغه عدد چې ماشوم پرې ودرېږی هغه به د سلېټ یا د کارډ نه لوستلے شی (57)

(4) ، 70 ، به بنی اړخ ته او ، 80 ، به کۀ اړخ ته وی، د کلاس د اړخ نه پۀ لېدلو سره.

ر-۲ | ۰۴ - ۱

۵۰	۴۹	۴۸	۴۷	۴۶	۴۵	۴۴	۴۳	۴۲	۴۱	۴۰

☐ = ۲ + ۴۷	☐ = ۷ - ۴۸	۵۰ = ۷ + ۴۳
☐ = ۵ - ۴۶	☐ = ۴ - ۴۴	☐ = ۳ + ۴۶
☐ = ۷ - ۴۹	☐ = ۹ - ۵۰	☐ = ۵ + ۴۵

۱۰۰	۹۹	۹۸	۹۷	۹۶	۹۵	۹۴	۹۳	۹۲	۹۱	۹۰

☐ = ٦ + ۹۲	☐ = ۷ - ۹۹	☐ = ۴ + ۹۴
☐ = ٦ - ۱۰۰	☐ = ٦ - ۹۶	☐ = ۷ + ۹۱
☐ = ۸ - ۹۹	☐ = ۴ - ۹۵	☐ = ۳ + ۹۷

د پرومبی وړتیې درس	عنوان : برعکس عملیات معلومول ، د عددی پتې پۀ مدد سره مساوات مکمل ول
خاکه ر2 - 04	

د شاگردانو / استاد مشغلې	درسی معاونات
1 ـ ذهنی تربیه ورکول: لس قدمونه مخ پۀ وړاندې یالس قدمونه مخ پۀ شا شمارل : (الف) استاذ وائی ، 76 ، شاگردان اول لس قدمونه مخ پۀ وړاندې شمارکوی (86) (ب) د ، 76 ، نه ، 66 ، پورې مخ پۀ شاشمارکوی .	
2 ـ استاد پۀ توره تخته یوولس چوکاټونه جوړوی چې پۀ کښې به د ، 60 ، نه ، 70 ، پورې عددونه وی (لکه شګې چې پۀ درسی پلان ر2-04 کښې دی) ؛ (الف) په توره تخته لیکل لکه $\square = 4 + 63$ $63 = \square - 67$	توره تخته
(ب) شاگردان د عدد ، 63 ، نه ، 4 ، قدمونه مخ پۀ وړاندې ځی او ، 67 ، معلوموی ، (ج) د پرومبی مساوات مکمل ، (د) دغه ځای نه ، 63 ، پورې مخ پۀ شا قدمونه اخیستل ، دقدمونوشمېر یعنې ، څلور ، ، (هـ) دویم مساوات مکمل .	
3 ـ استاد پوښتنه کوی چې څۀ وشول : (الف) ماشومان عددی قیمې وائی لکه اول موټر د ، 63 ، نه ، څخ اړخ ته څلور ، 4 ، قدمونه واخیستل او ، 67 ، ته راورسید و بیا موټر څلورقدمونه مخ پۀ شا ښی اړخ ته واخیستل او بیا ، 63 ، ته راورسید و . (ب) د مساوا توپۀ نورو جوړو هم دغه شان جاری ساتل لکه: $\square = 6 + 64$ $64 = \boxed{4} - \square$ $\square = 5 - 68$ $68 = \square + \square$ $\square = 7 - 67$ $67 = \square + \square$	
4 ـ د خپل اندې وال سره پۀ مشق پاڼه ر2-04-2 کارکول: (الف) د عددی پتې پۀ ذریعه د مساواتو مکمل (ب) لوښتل ، صحیح کول .	مشق پاڼه ر2-04-2

ر-۲ | ۰۴-۲

۳۰	۲۹	۲۸	۲۷	۲۶	۲۵	۲۴	۲۳	۲۲	۲۱	۲۰
۷۰	۶۹	۶۸	۶۷	۶۶	۶۵	۶۴	۶۳	۶۲	۶۱	۶۰
۹۰	۸۹	۸۸	۸۷	۸۶	۸۵	۸۴	۸۳	۸۲	۸۱	۸۰

$\square = ۳ - ۶۹$	$\square = ۴ + ۸۴$	$\boxed{۲۹} = ۶ + ۲۳$
$۶۹ = ۳ + \square$	$۸۴ = ۴ - \square$	$۲۳ = ۶ - \square$
$\square = ۶ - ۲۷$	$\square = ۸ - ۸۸$	$\square = ۷ + ۶۲$
$۲۷ = \square + \square$	$۸۸ = \square + \square$	$۶۲ = \square - \square$
$۸۱ = \square - ۹۰$	$۷۰ = \square + ۶۵$	$۲۸ = \square + ۲۰$
$۹۰ = \square + \square$	$۶۵ = \square - \square$	$۲۰ = \square - \square$

دویم ورپسې درس	عنوان: د بر عکس عمل پخلے کول (جمع او تفریق)
خاکه ر2-04	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات
1ـ ذهنی تربیه ورکول: د 99 پورې شمیرل: (الف) کله چې نوی لسیز شروع کیږي نو د ماشومانو وار نیول (1-9، 10-19، 20-29، ..... 90-99)؛ (ب) د ټولو د پرشیزو پوښتنه کول (لکه 30-39) د ټولو اویائیزو غوښتنه کول (لکه 70-79) او د غسې نور.	
2ـ د مشق پاڼې ر2-04-3 پۀ کار بحث کول: (الف) ټکۍ مثال پوهیدل (62 + 7 = 69)، (ب) د ورپسې سوال حل پۀ شریکه معلومول (لکه -4)، (ج) پۀ هر یو بکس کښې غیبه ښښه اوعدد لیکل (د) ټولې نتیجې لوستل، (هـ) مقابله کول، صحیح کول.	مشق پاڼه ر2-04-3
3ـ مشق پاڼه ر2-04-4 مطالعه کول (د شکل وضاحت به دغږۀ پۀ معنی کولے شی چې تۀ پرې پورته او ښکته ګرځې): (الف) پۀ مثال بحث کول، (ب) د شاګردانو غیب عددونه او نښې لیکل. (ج) پۀ نتیجو بحث کول.	مشق پاڼه ر2-04-4

ر-۲ | ۴-۳

۶۲	+ 7	= ۶۹	۷۸		= ۷۰		
۸۴		= ۸۰	۱۸		= ۱۲		
۵۱		= ۵۵	۱۳		= ۲۰		
۲۹		= ۲۸	۵۷		= ۵۹		
۳۸		= ۳۱	۲۱		= ۲۷		
۹۴		= ۹۹	۶۸		= ۶۳		
۴۰		= ۵۰	۸۷		= ۹۰		
۴۵		= ۴۹	۵۵		= ۵۵		

ر-۲ | ۴-۴



ریاضی - دویم ټولګی	عنوان: دوه هندسي (دوه رقمي) عددونه پۀ لسیزو او واحدونو کښې پۀ تفصیلي شکل لیکل .
ر 2 - 05	

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسي معاونات
	1 - د عددونو پوزیشن (حالت) معلومول	
- د 0 - 100 پورې پۀ لسیزو نو کښې د شمېر کولو غوښتنه کول ، دیو شاګرد پو عدد ویئیل .	- د لسو شاګردانو د سلو پورې پۀ لسیزو نو کښې شمار کول .	
- پۀ تخته د عددونو 0 - 10 - 20 ، 30 ..... 100 لیکل .	- ورته کتل .	تخته
- پو عدد وئیل لکه "27" پۀ تخته پۀ عددي سلسله کښې د دې عدد د ځای د معلومولو غوښتنه کول (1)	- همېشه دې ته پاملرنه کول ، د عدد د ټولو نه نزدې حالت ته اشاره کول مثلاً وئیل چې "27" د "20" او "30" تر منځه دے .	
- پۀ مختلفو عددونو مشق جاري ساتل .	- د عددونو خپل خپل ځایونو ته اشاره کول .	
	2- پۀ لسیزو او واحدونو کښې د قیمتونو پۀ تفصیلي شکل لیکل	
- پۀ تخته یو بال او ورسره د "24" روپو د قیمت یو کارډ جوړول ، دې سره خواکښې "6" د لسو او "7" د یوې روپې نوټونه جوړول (2) .	- څۀ چې استاد کوي هغې ته کتل ، پۀ نوټونو کښې د ټول قیمت شمارل .	تخته مشق پاڼه ر2-05-1
- غوښتنه کول چې دبال قیمت به څنګه ورکولے کیږي د هغې نوټونو چرخ کول کوم چې د قیمت دادا کولو دپاره لګي .	- بحث کول ، معلومول چې دبال د اخستو دپاره دوه د لسو او څلور د یوې روپې نوټونو ضرورت دے .	
	3- پۀ لسیزو او واحدونو کښې د قیمتونو پۀ تفصیلي شکل د لیکلو مشق کول	
- د کارډ کتابونو د پرانستلو غوښتنه کول ، دا یقیني کول چې ټول شاګردان پۀ کار پوهه شي .	- مشق پاڼه ر 2 - 05 - 1 مطالعه کول د هغه مثال پېژندل چې پۀ تخته ورته اوس اوس حل شوے دے .	مشق پاڼه ر2 ر 2 - 05 - 1
- د شاګردانو نه د مشق پاڼې د مکملولو غوښتنه کول ، مدد کول ، صحیح کول	- د شاګردانو د هر یو خپل قیمت معلومول ، د خپلو نو د اخیستلو دپاره د "10" او د "1" روپې نوټونه چرخي کول ، بیا د قیمت پۀ لسیزو نو او واحدونو کښې لیکل لکه څنګه چې ورته بنودلے شوی دی .	
- د ما شومانو نه د نتیجو د لوستلو او تشریح کولو غوښتنه کول .	- د شاګردانو ځانله ځانله د نتیجو لوستل ، مقابله کول که ضرورت وو نو صحیح کول .	

درسی پلان: ر 2 - 05	ددې درسی پلان په باب څه نورې تبصرې

(1) استاد به عددونه داسې لیکي: 0 - 10 - 20 - 30 - 40 - 50 - 60 - 70 - 80 - 90 - 100 ، او لږ څه ځای به د عددونو په منځ کښې پرېږدي. طالب علمان به د عدد "27" په ښنه کولو دپاره د عددونو 20 او 30 په منځ کښې ځای ته اشاره کوي. که چېرې کافي ځای موجود وي نو دوی نه دې وغوښتل شي چې د عدد "27" ځای څومره چې ممکن وي هغومره رسایه ښنه کړي. مثلاً د "27" د ځای د معلومولو دپاره په کار ده چې عدد 30 ته نزدې ځای وښودلے شي.

(2) داد مشق پانړې ر2 - 05 - 1 نه یو مثال دے. استاد دې دا نمونه په تور تخته نقل کړي. مشق پانړه به بنده سائله شي.



د ورځې وړاندې درس	عنوان:	د عددونو تفصیلي شکل دلیکلو مشق کول
خاکه ل 2-05	پۀ لسیزو او واحدونو کښې	

د شاګردانو / استاد مشغلې	درسي معاونات
1- ذهني تربیه ورکول: داستاد دوښې (چیستانونه) وښیل لکه: یوعدد ولیکئ چې د «45» نه وړوکے او د «40» نه غټ وی (ډیرجوابونه ممکن دی) خو کارونه ورحواله کول.	
2- داستاد یوعدد وښیل: (الف) دشاګردانو ددغه عدد نه مخکښې او وروسنو مکمل لسیزونه وښیل لکه (37 : 30 ، 40)، (ب) داپۀ تخته لیکل.	تخته
3- زبانی مشق کول: داستاد یوعدد مثلاً 86 وښیل، دشاګردانو وښیل چې داعدد څومره لسیزه او څومره واحدونه لري. مثلاً: (8 لسیزه او 6 یونټه)	
4- مشق پاڼې ر 2 - 05 - 2 نه کتل: (الف) یوسوال پۀ شریکه حل کول، (ب) بیاد شاګردانو لپاره مشق پاڼه مکاول، (ج) داندې وال سره ئې مقابله کول.	مشق پاڼه ر2-05-2

ر-۲ | ۰۵ - ۲

۳۰ + ۳ (۷۵)	۸۰ + ۳ (۴۴)	۳۰ + ۸ (۶۹)
۲۰ + ۹ (۲۹)	۴۰ + ۴ (۸۳)	۶۰ + ۹ (۳۸)
۷۰ + ۵ (۳۳)	۷۰ + ۹ (۷۹)	۲۰ + ۷ (۲۷)
۸۰ + ۴ (۵۷)	۹۰ + ۲ (۱۷)	۹۰ + ۴ (۵۱)
۵۰ + ۷ (۶۸)	۴۰ + ۶ (۴۶)	۵۰ + ۱ (۶۶)
۶۰ + ۸ (۸۴)	۱۰ + ۷ (۹۲)	۶۰ + ۶ (۹۴)

دویم ورپسې درس	عنوان:	د پیسو مانول، پۀ تفصیلي شکل کښې لیکل
خاکه ر 2-05		

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسي معاونات
1- ذهني تړیه ورکول: د استاد یا یو عدد ورکول، مثلاً "36": (الف) د شاګردانو څخه وغواړي چې د دغه عدد پۀ لسیزونو او واحدونو کښې پۀ تفصیلي شکل لیکل لکه "30 + 6": (ب) استاذ یو مکمل لسین او واحدونه ورکوي لکه "50 + 6" او د شاګردانو څخه ایکی یو عدد جوړول مثلاً "56": (ج) د استاد مختلف مشقونه ورکول. د لسیزونو او واحدونو ځایونه بدلول، لکه "6 + 50" "50 + 6" پۀ دواړو حالتونو کښې ئې نتیجه "56" ده.	
2- د استاد یوه فصه وئیل، چې هغه یو ځل څنګه یو کتاب واخیستو، پۀ نوره تخته د "36" روپو د قیمت د کارډ سره یو کتاب رسمول غوښتنه کول چې تاسو څخه څوک وغواړي چې ما ددې کتاب قیمت څنګه ادا کړو: (الف) د شاګردانو څخه جوابونه ورکول، د "10" "5" او یوې روپۍ نوټونه استعمالول لکه $36 = 10 + 10 + 10 + 5 + 5 + 1$ یا $36 = 10 + 10 + 5 + 5 + 5 + 1$ او غیره، (ب) د پۀ نوره تخته لیکل (ج) بیا د استاد وئیل چې د هغه سره پۀ جیب کښې صرف "4" د لسو روپو نوټونه وو (د) د شاګردانو وئیل چې هغۀ څخه روپۍ واپس واخیستې (هـ) د استاد پۀ نوره تخته لیکل: $36 - 40 = 4$	نوره تخته
3- د شاګردانو مشق پا نړه ر 2 - 05 - 3 مطالعه کول، معلومول چې د مشق پا نړې پۀ پا سنه نښې څه کښې همدغسې مشابه قسمې جوړې شوې دي، (الف) پۀ الفاظو کښې د پیسو ورکولو دوه طریقې بیانول، (ب) پۀ خپله دبل ورکړې شوي کار حل معلومول، (ج) مقابله کول، چک کول.	مشق پانړه ر 2-05-3
4- د استاذ پۀ پوښتنې مثال پۀ ټولګي کښې کار کول، (الف) د شاګردانو زورو کارونو پخپله حلول، دانډي وال سره بحث کول (ب) د استاذ چک کول.	



ریاضی - دویم تولګی	عنوان:	درسی معاونات
ل 2 - 06	په دوو قدمونو کښې د دوه هندسی عددونو جمع بغیر د انتقال (اړولو) نه	

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسی معاونات
	۱- د قیمتونو جمع کول (مکمل لسیزونه)	
- په مېز باندې خلور خیزونه اېښودل او د 20، 30، 40، او 50 روپو کارډونه ورسره ګډول (1)	- خیزونه لیدل که قیمتونه یې مناسب وی بحث پرې کول د خپلو لوبو پیسې تیارول.	مختلف خیزونه، د قیمت کارډونه، د لوبو پیسې (د 10 روپو نوټونه)
- د شاګردانو نه غوښتنه کول چې کوم دوه خیزونه د دوی اخیستل خوښ دی.	- دیو ماشوم نه څخه پوښتنه کول چې د کوم دوه خیزونو نه خپلې خوښې دوه خیزونه اخیستل، پیسې د متعلقه خیزونو څخه اېښودل.	
- په ټوره تخته د مساوات 20 + 40 = 60 لیکل.	- د عددی قیمې وئیل لکه "د ..... او د ..... په اخیستو به 20 روپې + 40 روپې = 60 روپې ورکوم".	ټوره تخته
- دیوبل ماشوم نه غوښتنه کول چې د باقی پاتې دوو خیزونو د اخیستلو د پاره څه کول پکار دی.	- د پاتې خیزونو څخه د 30 روپې او 50 روپې اېښودل، وئیل چې "د ..... او د ..... د اخیستلو د پاره به زه 30 روپې + 50 روپې = 80 روپې ورکوم" دیوبل ماشوم په ټوره تخته 30+50 = 80 لیکل.	
- د پومبو دوو شاګردانو نه غوښتنه کول چې خپلې پیسې واپس واخلی او خیزونه په مېز بیا کېږدی؛ د نورو دوو شاګردانو نه د دوو خیزونو د اخیستو غوښتنه کول (2)	- د دوو خیزونو بلله جوړه اخیستل لکه: 30 + 20 = ؛ 40 + 50 = ؛ 20 + 50 = ؛ وئیل، د محکمې په شان لیکل. 40 + 30 =	
	2- مکمل لسیزونه او کوچنی عددونه جمع کول (3)	
- تشریح کول چې یو قیمت بدل کړے شوے د 30 روپو د قیمت په ځای د 35 روپو د قیمت کارډ ګډول، پوښتنه کول چې دا خیز ولې دومره ګران شو؛ د ضرورت په اندازه مرسته کول؛ د 50 روپو په ځای د 55 روپو قیمت ګډول (4).	- قیمتونو په باب خبرې کول، خیزونه ولې ګرانیږی (لکه د خښو خیزونو کې، نوی خیزونه، ښه خیزونه)	
- اعلان کول چې هغه به څنګه دوه خیزونه پخپله واخلی د خپلو کاغذی پیسو بشودل، مثلاً هغه غواړی چې هغه دوه خیزونه واخلی چې قیمت یې 20 + 35 روپې وی په ټوره تخته 20 + 35 لیکل.	- معلومول چې د استاد سره د 10 او 5 روپو نوټونه دی وئیل چې د دې دوو خیزونو قیمت 20 روپې او 35 روپې دے.	د لوبو پیسې (د 10، او 5 روپو نوټونه)
- په مزه مزه مظاهره کول چې اول هغه څه خیزونه وړاندې 20 روپې کېښودې بیا یې د بل خیز د وړاندې 30 روپې کېښودې اویا یې 5، نورې روپې د دویم خیز سره کېښودې. د پیسو ورکولو مظاهره یوځل بیا په مزه مزه کول.	- د هغه څه بیا نول چې استاد یې کوی؛ د څو ماشومانو د هغه څه په یاره کښې د وئیلو کوشش کول چې دوی یې وینی د ماشومانو ورته یوځل بیا په غور سره کتل، بیا یې بیا نول.	د لوبو نوټونه
- د یو بحث رهنمائی کول؛ په ټوره تخته صحیح قدمونه/ جوابونه لیکل د هغه پرومې بکس د لاندې چې د ماشومانو له خوا تجویز شوے دے د ضرورت په وخت مدد کول: 20 + 30 = لیکل، 50 + 5 = لیکل، 20 + 35 = 55 لیکل	- بحث کول چې استاد پیسې په قدمونو کښې ورکړی، اول 20 روپې بیا 30 روپې اوبیا 5 روپې معلومول چې دا قسم پیسې به څنګه لیکلے کیږی.	
- د استاد نه د نول قدمونه پوښتنه کول؛ لیکل 20 + 30 = ، 30 + 5 = ، 5 + 20 =	د یو مجه نتیجې وئیل: 50 دا په ټوره تخته لیکل د مکمل نتیجې وئیل: 55 دا په ټوره تخته لیکل، د څو ماشومانو د دې عمل نول قدمونه لوستل.	ټوره تخته
	- د تېرعمل په دې تکرار بحث کول، په قدمونو کښې د نتیجې معلومول د هر یو قدم نتیجه لیکل؛ د استاد مدد کول.	ټوره تخته
	3- په دوو قدمونو کښې د جمع مشق کول	
- د ماشومانو نه د عمل کولو او د لیکلو غوښتنه کول که دا نور دوه خیزونه څوک واخلی نو څه به وشی د 40 روپو څخه 3/4 او 35 روپو ته مرسته کول.	- دوه پاتې خیزونه اخیستل د یو خیز مخې ته 40 روپې او د بل خیز مخې ته 50 روپې او 5 روپې اېښودل؛ د بحث په وخت په ټوره تخته لیکل: 40 + 55 = 40 + 5 + 50 = 55 + 5 = د نول قدمونه لوستل.	د لوبو پیسې (د 10 روپو او 50 روپو نوټونه) ټوره تخته

درسي پلان: ر-2 - 06	ددې درسي پلان په باب څۀ نورې تبصرې

(1) استاد به کلاس ته څلور خیزونه راوړي چې د هغه خیزونو قیمت په حقیقت کښې هم 20 ، 30 ، 40 او 50 روپۍ وي . استاد دې دغه شان ددې څلورو خیزونو د پاره د قیمت کارډونه تیار کړي ، که چیرې هغه دا خیزونه ننسی راوړے نو هغه دې بیا څلور کتابونه ، څلور بستې یا هرشۍ چې وي راوړي او وضاحت ډوکړي چې دا خیزونه مختلف قیمتونه لري ، څلور مختلف د قیمت کارډونه ډ ورسره ونښلوي .

هغه څلور کتابونه / بستې / ..... / ..... هم راوړے شي او وضاحت دې وکړي چې دیو نه مطلب دلویو خیز دے (د قیمت کارډ ئې 20 روپۍ دے) ، یو بالټ دے (د قیمت کارډ ئې 30 روپۍ دے) وغیره وغیره .

(2) هر یو شاګرد به دوه خیزونه اخلي ، عددي قیمې به وائي کله چې پیسې د خیز مخې ته اېښودے . هرکله چې ټول خیزونه واخستے شي ماشومان به خپلې پیسې واپس اخلي او دوه نور ماشومان به کوشش کوي .

استاد به ډۀ ماشومانو څۀ قدرې اثر اچوي چې دوی د مختلفو خیزونو جوړې واخلي .

(3) ګډوډ عددونه لکه : 92 د لسیزو او واحدونو نه جوړ دی . ډۀ مکمل لسیزو لکه : „30“ کښې واحد همیشه „0“ وي . ډۀ ګډوډ عددونو لکه „32“ کښې واحدونه همیشه د „1“ نه تر „9“ پورې وي .

(4) اوس د څلورو خیزونو قیمت 20 ، 35 ، 40 او 55 روپۍ دے .

(5)

$$\boxed{55+40}$$
$$\square = 50 + 40$$
$$\square = 5 + \square$$
$$\boxed{\quad = 55 + 44}$$

د پومبۍ وړښې درس	عنوان: پۀ دوو قدمونو کښې جمع ته تقویت ورکول (پخلے کول)
خاکه ر 2-06	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات
1- ذهنی تربیت: پۀ دوه دوه کښې د "0 - 100" پورې شمارکول، پیاد "1" نه شروع کول تر "99" پورې.	
2- مشق پاڼې ر 2 - 06 - 1 ته کتل د پومبی حالت پۀ باب خبرې کول: (الف) یوامیل اخیستل چې قیمت ئې 80 روپۍ وی او قلمونه چې قیمت ئې "12" روپۍ وی (اول بکس د ټولونه پاس)	مشق پاڼه ر 2-06-1
(ب) د کاغذی پیسو پۀ مدد سره عددی قیمه معلومول.	کاغذی پیسې
(ج) پۀ متعلقه بکس کښې د کارلیکل (لاندینے اول بکس) 80 + 12	
3- د مساوات معلومول او ددې مکمل:	
90 = 10 + 80	
92 = 2 + 90	
4- دیوالنۍ وال سره پۀ باقی پاتې حالتونو کارکول، (الف) د استاذ پۀ انفرادی پوله مدد کول.	
(ب) پۀ آخره کښې د ټولو مساواتو کلاس (ټولګی) ته لوستل، (ج) د استاذ چک کول او صحیح کول.	



دویم وړپسې درس	عنوان:	درسي معاونات
خاکه ر 2 - 06	کړو وړو عددونو سره د مکملو لسیزو د جمع متبادل اړخ	

د شاګردانو/استاد مشغلې

1- د استاد دیو سړي پۀ باب خبرې کول چې هغه پۀ اول کښې د 45.- روپوخۀ مېوه واخیسته اویا ئې د 30.- روپوخۀ سبزۍ واخیستې ؛ غوښتنه کول چې دغه سړے به تولې خو مره پیسې ورکوی: (الف) د شاګردانو پۀ تور تخته 45 + 30 = ☐ لیکل ؛ (ب) د مساوات حلول د عددونو د ټیبل (جدول) پۀ ذریعه او یا په بیا دوسره .	تور تخته
2- د استاد وئیل چې بله ورځ یو بل سړی خۀ سبزۍ واخیسته چې قیمت ئې 30.- روپے وو اویا ئې خۀ مېوه واخیسته چې قیمت ئې 45 روپے وو ؛ غوښتنه کول چې هغه به خومره پیسې ورکوی: (الف) د شاګردانو پۀ تور تخته 30 + 45 = ☐ لیکل شاید چې هغوی اندازه وکړی چې هغه به هم هغه هومره پیسې ورکوی چې پۀ تېره ورځ هغه بل سړی ورکړې (ب) د استاذ دوجوهاتو پۀ باب پوښتنه کول، (ج) پۀ آخره کښې پۀ تورتخته 45 + 30 = 30 + 45 لیکل .	تور تخته
3- د استاد ویناکول چې مساوات د مشق پاڼې پۀ مدد سره مکمل کړئ چې د دې خبرې تصدیق وشی چې مخکښې دوی خۀ اندازه کلوپۍ وو: (الف) پۀ مشق پاڼه کښې د شاګردانو مساوات مکمل (اول بکس) معلومول چې 45 + 30 او 30 + 45 پوښتنه دی، (ب) د دې متعلق خبرې کول (ج) د نتیجو پۀ بکس کښې پۀ 75 ،، د صحیح ځواب ګکول .	مشق پاڼه ر 2 - 06
4- د اندې وال سړه پۀ شریکه مشق پاڼه مکمل ؛ هرځل د نتیجو پۀ بکس کښې پۀ نتیجه د صحیح ځواب ګکول ؛ پۀ آخره کښې د دوه مساواتو کلاس (ټولګی) ته اوسنل .	



عنوان: د مکمل لسیزو د دوه هندسي عددونو سره جمع ،"د 100" د ټېبل" استعمالول

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسي معاونات
– د "0" نه د شروع کولو او ورسره بیا بیا د "10" د جمع کولو غوښتنه کول، د شاګردانو له خوا ورکړې شوې نتیجې په تخته لیکل (0 ، 10 ، 20 ، ..... 100)	1 – د لسیزو د جمع کولو او تفریق کولو پۀ ذریعه د اعدادو سلسله ترتیبول – وئیل 0 + 10 = 10 ؛ 10 + 10 = 20 ؛ 20 + 10 = 30 وغیره ..... 90 + 10 = 100 پۀ آخره کښې د خو شاګردانو د عددي سلسلو لوستل.	تور تخته
– د "100" نه د شروع کولو او بیا بیا تر "0" د تفریق کولو غوښتنه کول، دورکړې شوو نتیجو په تور تخته لیکل (100 – 90 – 80 ..... 0) (1).	– وئیل 100 – 10 = 90 ؛ 90 – 10 = 80 ؛ وغیره ..... 10 – 10 = 0 پۀ آخره کښې د عددي سلسلې لوستل.	
– دیو مشکل کار اعلان کول، بیا غوښتنه کول چې د "1" نه شروع کړئ او بیا بیا ورسره "10" جمع کړئ، پۀ تور تخته د نتیجو لیکل (1 ، 11 ، 21 ، 31 ، ..... 91) (1).	– وئیل 1 + 10 = 11 ؛ 11 + 10 = 21 ؛ 21 + 10 = 31 وغیره ..... 81 + 10 = 91 ؛ د دوئ عددي سلسلې لوستل (1 نه 91 پورې)	
– د "91" نه د شروع کولو او بیا بیا تر "0" د تفریق کولو غوښتنه کول؛ پۀ تور تخته د نتیجو لیکل.	– وئیل 91 – 10 = 81 ؛ 81 – 10 = 71 ؛ 71 – 10 = 61 وغیره ..... 11 – 10 = 1 ، د عددي سلسلې لوستل.	
– د هدغه شان عمل کولو غوښتنه کول، د "2" او "92" نه شروع کول، د عددي سلسلې په تور تخته لیکل (1)	– وئیل 2 + 10 = 12 وغیره، بیا 92 – 10 = 82 وغیره، د عددي سلسلې لوستل.	
– د کتاب د شا د نمبر کور (پوخ) نه د کتلو غوښتنه کول (د "10" ټېبل) ؛ د "100" پۀ ټېبل کښې د هغه عددي سلسلو د معلومولو بلنه ورکول چې پۀ تور تخته لیکلې شوې دي.	2 – د "100" د ټېبل د یوحصې پۀ حیث د اعدادو سلسلې ترتیبول/جوړول – معلومول چې عددي سلسلې د "100" پۀ ټېبل کښې پۀ هم یوشان کالم کښې لیکلې شوې دي. د ټېبل (جدول) نه د عددي سلسلې دوئیلو پۀ وخت عدد ته اشاره کول (مخ پۀ وړاندې او مخ پۀ شا) څوګلي لوستل.	د کار د کتاب شانته د نمبر پوښ کښې تور تخته
– د "6" نه د شروع کولو او بیا بیا ورسره د "10" د جمع کولو غوښتنه کول د اعدادو ټېبل ته کتل، صحیح عدد ته اشاره کول.	– د عددي ټېبل (جدول) متعلقه کالم (قطار) معلومول 6 + 10 = 16 ؛ 16 + 10 = 26 وغیره ..... 86 + 10 = 96 هم پۀ دغه وخت صحیح عددونو ته اشاره کول.	
– د "96" نه د شروع کولو او بیا بیا تر "0" د تفریق کولو غوښتنه کول.	– د صحیح کالم معلومول، وئیل 96 – 10 = 86 ؛ 86 – 10 = 76 وغیره، هم پۀ دغه وخت صحیح عددونو ته اشاره کول.	
– د "9" نه د شروع کولو او بیا بیا ورسره د "10" د جمع کولو غوښتنه کول، د کتل/ د "100" ټېبل کښې صحیح عددونو ته اشاره کول، بیا د "99" د شروع کولو او بیا بیا تر "0" د تفریق کولو غوښتنه کول.	– وئیل 9 + 10 = 19 ؛ 19 + 10 = 29 او دغسې ورپسې بیا 99 – 10 = 89 ؛ 89 – 10 = 79 او دغه شان ورپسې؛ هم پۀ دغه وخت پۀ مربوط کالم کښې صحیح عددونو ته اشاره کول.	د "100" ټېبل (جدول)
– مشق پانړې ر 2 – 07 – 1 ته د کتلو غوښتنه کول، پۀ کار باندې بحث کول.	3 – د اعدادو سلسلې جوړول – د بکسونو د کول پخیر د "100" د ټېبل د کتلو نه چې د کتاب پۀ آخرۍ پوښ دننه خوا ته دي.	مشق پانړه ر 2 – 07 – 1
– د ټولو مساواتو د مکمل کولو نه پس د اندې وال سره یوځای د "100" د ټېبل (جدول) پۀ مدد سره د حلونو چک کولو نه د ترتیب ورکولو غوښتنه کول.	– د چک کولو د پاره د یواندې وال د ټېبل (جدول) نه د متعلقه سلسلو لوستل، د بل پۀ مشق پانړه د لیکلې شوې حلونه ورسره مقابله کول؛ بیا د کار بدلول.	مشق پانړه ر 2 – 07 – 1 د "100" ټېبل (جدول)

درسي پلان: ر2-07	ددې درسي پلان په باب څه نورې تبصرې

۱، استاد دې د هر یو عددي سلسلې لاندې متضاد سلسله ولیکي :

100 90 80 70 60 50 40 30 20 10

10 20 30 40 50 60 70 80 90 100

دا ټول عددي سلسلې سره هم تعلق لري (1-11-21 .....؛ 91-81-71 .....)، عددي سلسلې به افقي (یوبل سره په یو قطار کښې) لیکلې کیږي. هرکله چې د ۱۵۵ د ټیبل (جدول) سره کار کوئ نو تاسو خبر وسئ چې دا عددي سلسلې عمودي لیکلې شوې دي .

ر-۲	۰۷-۱

(۱)

۴	+ ۱۰ =	۱۴	
	+ ۱۰ =	۱۴	
	+ ۱۰ =		
	+ ۱۰ =		
	+ ۱۰ =	۵۴	
	+ ۱۰ =		
	+ ۱۰ =		
	+ ۱۰ =		
	+ ۱۰ =	۹۴	

(۲)

	۱۰ − =	۹۷	
	۱۰ − =		
	۱۰ − =	۶۷	
	۱۰ − =		
	۱۰ − =		
	۱۰ − =		
	۱۰ − =	۳۷	
	۱۰ − =		
	۱۰ − =	۷	

(۳)

	۱۰ + =	۵۸	
	۱۰ + =		
	۱۰ + =		
	۱۰ + =	۹۸	

(۴)

	۱۰ − =	۸۵	
	۱۰ − =		
	۱۰ − =		
	۱۰ − =	۴۵	

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

نشریځی تبصرې

دا کتاب چې « د ښوونکی لارښود » نومیږی د ریاضی پۀ ښودلو (تدریس) کښې د هغه سکولونو د معلمانو / معلمانتو دپاره ضروری معلومات وړاندې کوی پۀ کومو کښې چې د تدریس زښه پښتو ده او همدارنګه د دغه مضمون پۀ تدریس کښې چې د پاک - جرمن لومړنی تعلیمات له خوا تیار شوی کتاب « د طالب علمانو د کارکتاب » سره یوځای او پیوسته وشی، د دغه معلمانو / معلمانتو سره زیاته مرسته کوی .

۱- دا ټوک د دوئیم ټولګی د لومړنۍ نیمائی دپاره د تدریس دبرش یونټه لری که چرې تعلیمی کال د اپریل نه شروع شی نو تر نومبر پورې به وخت وینسی. هر یونټ یو تفصیلی درسی پلان لری . هر درسی پلان د یونه نیولې تر دوو پورې د « ورپسې درسونو » خاکې لری . مشق پاڼې ، قمې، لوبې ، د درسی معاونانتو د استعمال او د تدریس د طریقو متعلق لارښود ني هم ورسره شاملې دی .

« د ښوونکی لارښود » کتاب کښې هر درسی یونټ همیشه پۀ څلورو مخونو کښې دے . دوه لومړی مخونه چې پۀ یو نظر سره پېژندے شی د تفصیلی درسی پلان دپاره دی . پۀ کوم کښې چې د طالب علمانو او استاذ مشغلې تشریح شوې دی ، مشق پاڼې او څۀ نورې تبصرې لری . دوه نور مخونه « د ورپسې درسونو » د خاکو دپاره دی چې د بل نوی درسی پلان نه مخکښې ښودل (تدریس) کیږی . پۀ دې « ورپسې درسونو » کښې د متعلقه مشق پاڼو یا نورو متعلقه درسی معاونانتو نه چې ددې یونټ دپاره ټاکل شوی دی ، کار اخیستل کیږی. معلم به پۀ یوه هفته (اونۍ) کښې دوه درسی پلانونه او د هغوی متعلقه « ورپسې درسونه » ښئی (تدریس کوی) .

2- موجوده « د ښوونکی لارښود » یوازمائش شوے کتاب دے خوبیاهم هر بدلون او اصلاح ته غاړه ږدی یعنې :

(الف) اصلاحی تجویزونو ته د زړۀ د کومې هرکلے وئیل کیږی .

(ب) که کومه غلطی د چا پۀ نظر ورشی نو زمونږ پام ورته را اړولے شی .

3- « د ښوونکی لارښود » کتاب او « د طالب علمانو د کارکتاب » د استعمال دپاره یو څو لارښوونې :

(الف) معلم به د درس د ښودلونه همیشه د تدریس ټول یونټ د « ورپسې درسونو » د خاکو پۀ شمول ښۀ مطالعه کوی . یواځې پۀ دې طریقه سره د ورکړے شوو لارښوونو (هدایاتو) نه ، لکه د څۀ ځیزونو راوړل تۀ ګلکۍ نه، یا د یوې قصې یا لوبې سره پخپله ښۀ اشنا کېدل ، یا د یوې لوبې او چکر دپاره تیارے ښول ، ښۀ کار اخیستل کېدے شی . ددې لوستل به وړ وخت وښۀ نیسی خود معلم کامیاب تدریس (ښودنه) به یقینی کړی .

(ب) د ماشومانو حوصله افزائی به پۀ دې کښې کیږی چې د خپل « کارکتابونه » صاف سوتره وساتی او د تدریس (ښائیځې) نه مخکښې پۀ مشق پاڼو څۀ وښۀ لیکی او تصویرونه وربانديې وښۀ باسی .

د ړومبۍ وړیې درس	عنوان: د لسیزو عددي سلسلې پۀ یادو زده کول/معلومول
خاکه ر 2-07	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسي معاونات
1- ذهني تربیه: پۀ لسیزو کښې مخ پۀ وړاندې اومخ پۀ شا شمارکول (د 0، 5، او د 100، نه شروع کول).	
2- د "100" ټیبل" (جدول) ته کتل پۀ یادول د "5" نه "95" او "95" نه "5" پورې عددي سلسلې زده کول:	د "100" ټیبل (جدول)
(الف) د خوښ شوماتو د "5" نه "95" او "95" نه "5" پورې د عددي سلسلو لوستل؛ (ب) د نوړو اوږدل، (ج) د ضرورت پۀ وخت شمارل.	
3- پۀ یادو دزده کولو د پاره د یوې بلې عددي سلسلې منتخب کول، بیا پۀ خوښ ګردانو لوستل؛ (الف) د نوړو اوږدل، (ب) د ضرورت پۀ وخت صحیح کول.	
4- پۀ مشق پاڼه ر 2-07-2 بحث کول؛ قطار پۀ قطار د غیږو عددونو ټکول/لیکل.	مشق پاڼه ر 2-07-2
5- "د 100" د ټیبل" (جدول) د متعلقه کالم (قطار) سره د مقابله کولو پۀ ذریعه د حلونو چک کول.	
6- پۀ بکسونو کښې لیکلی شوی نول عددونه کلاس ته لوستل؛ کالم پۀ کالم (قطار پۀ قطار) مخ پۀ وړاندې اومخ پۀ شا.	

ر-2 | ۰۷-۲

۱	۲	۳	۴	۵	۶	۷	۸	۹	۱۰
۱۱	۱۲		۱۴						۲۰
۲۱			۲۴				۲۸		۳۰
۳۱			۳۴						۴۰
۴۱	۴۲		۴۴						۵۰
۵۱			۵۴				۵۸		۶۰
۶۱			۶۴						۷۰
۷۱	۷۲		۷۴						۸۰
۸۱			۸۴				۸۸		۹۰
۹۱			۹۴			۹۷			۱۰۰

دویم وړپی درس	عنوان: د ۱۰۰ تر پورې د جمع او تفریق د مکمالو لسیزو استعمالول	درسی معاونات
خاکه د-2-07		

د شاګردانو/استاد مشغلې

۱- ذهنی تربیه: د شاګردانو د ۱۰۰ تر پورې (جدول) ته کتل، (الف) داستاذ دا قسم کار ورسپارل:

23 + 10 ..... لږه وقفه بیا + 10 لږ وقفه بیا + 10 ..... د نتیجې غوښتنه کول،

(ب) د شاګردانو هرې نتیجې ته اشاره کول، د هرځل ۱۰ جمع کولو نه پس (مثلاً 33، 43، 53) بیا د نتیجې وئیل (ج)، خو مشقونه کول او د مختلف عددونو نه شروع کول.

2- داستاد یو عدد وئیل لکه (47)، د شاګردانو نه غوښتنه کول چې 30 ورسره جمع کړي.

(الف) د نتیجې د معلومولو د پاره د شاګردانو تر پورې (جدول) استعمالول: اول 47 ته اشاره کول، 47 + 10 وئیل (57 ته اشاره کول) + 20 وئیل (67 ته اشاره کول) وئیل .....+30 (77 ته اشاره کول)، 47 + 30 = 77 وئیل (ب) داستاد هم دغه شان ساده مشقونه ورکول.

3- داستاد یو عدد وئیل لکه (62) د شاګردانو نه غوښتنه کول چې 30 ترې نه تفریق کړي، (الف) د شاګردانو تر پورې (جدول) استعمالول، معلومول، وئیل 62 - 10 = 52 (52 ته اشاره کول)؛ وئیل ..... - 20 = 42 (42 ته اشاره کول) وئیل ..... - 30 = 32 (32 ته اشاره کول). پۀ آخره کښې وئیل 62 - 30 = 32 (ب) پر مشقونه کول.

4- مشق پانړه ر 2-07-3 مطالعه کول. پرومیې مشق پۀ شریکه کول: (الف) د سوال لوستل، (ب) د 100 تر پورې پۀ تر پورې (جدول) کښې 31، 41، 51، 61 (نقطې دا ره کړې) ته اشاره کول او د 30+ حساب کول، (ج) د نتیجې عدد پۀ ګوته کول (دې ټک کولو د پاره تر پورې پۀ نقطو نقطو کښې لیکلی شوې دی)، (د) د مساوات مکمل مثلاً 31 + 30 = ☐ دا بل مساوات سره جاري ساتل، (هـ) داستاذ مدد کول، صحیح کول

مشق پانړه ر2-07-3

ر-۲ | ۰۷ - ۳

۱	۲	۳	۴	۵	۶	۷	۸	۹	۱۰
۱۱	۱۲	۱۳	۱۴	۱۵	۱۶	۱۷	۱۸	۱۹	۲۰
۲۱	۲۲	۲۳	۲۴	۲۵	۲۶	۲۷	۲۸	۲۹	۳۰
۳۱	۳۲	۳۳	۳۴	۳۵	۳۶	۳۷	۳۸	۳۹	۴۰
۴۱	۴۲	۴۳	۴۴	۴۵	۴۶	۴۷	۴۸	۴۹	۵۰
۵۱	۵۲	۵۳	۵۴	۵۵	۵۶	۵۷	۵۸	۵۹	۶۰
۶۱	۶۲	۶۳	۶۴	۶۵	۶۶	۶۷	۶۸	۶۹	۷۰
۷۱	۷۲	۷۳	۷۴	۷۵	۷۶	۷۷	۷۸	۷۹	۸۰
۸۱	۸۲	۸۳	۸۴	۸۵	۸۶	۸۷	۸۸	۸۹	۹۰
۹۱	۹۲	۹۳	۹۴	۹۵	۹۶	۹۷	۹۸	۹۹	۱۰۰

(۲)

۳۱ + ۳۰ = ☐

۲۵ + ۴۰ = ☐

۷۷ + ۲۰ = ☐

۱۸ + ۷۰ = ☐

۳۱ + ۶۰ = ☐

(۳)

۹۳ - ۳۰ = ☐

۸۵ - ۴۰ = ☐

۶۸ - ۲۰ = ☐

۵۲ - ۱۰ = ☐

۷۹ - ۵۰ = ☐

عنوان: د ګڈو وړ عددونو سره د مکملو لسیزو جمع اومنفی

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسي معاونات
	۱- ذهني تربیه کول : لسیزو سره شمېرکول	
- دیو ورکړے شوی لسیز مثلاً د 50 نه لسیزو سره مخ پۀ وړاندې او مخ پۀ شا د شمېرکولو غوښتنه کول .	- د پرومانو شومانو مخ پۀ وړاندې شمېرکول (لکه : 50 - 60 ..... 100) بیا مخ پۀ شا (لکه : 50 - 40 ..... 0) .	
- پۀ تخته مثلاً 12 لیکل ؛ لسیزو سره مخ پۀ وړاندې د شمارلو غوښتنه کول ، د شروع کولو دپاره یوځو عددونه ورکول لکه (28 ، 17 ، 36 .....)	- د پرومانو شومانو شمارکول لکه : 12 - 22 - 32 ..... 92 ؛ 28 - 38 - 48 ..... 98 ؛ 17 - 27 - 37 ..... 97 ؛ اودغه شان ورپسې نور ؛ عددی سلسلې پۀ تخته لیکل .	تخته
- نورګڈو وړ عددونه ورکول اود لسیزو سره مخ پۀ شا شمارلو غوښتنه کول (لکه 85 ، 91 .....) ؛ پۀ تخته لیکل .	- شمارل لکه ؛ 85 - 75 - 65 ..... 5 ؛ 91 - 81 - 71 ..... 1 ؛ عددی سلسلې پۀ تخته تخته لیکل .	
	2- ګڈو وړ عددونو سره مکمل لسیزونه جمع کول	
- پۀ تخته تخته لیکل لکه 40 + 30 = □ .	- د مساوات مکمل ؛ پۀ پکس کښې 70 لیکل .	تخته
- د اولنۍ مساوات د لاندې بل مساوات 44 + 30 = □ لیکل .	- حساب کول ، بحث کول ، د مساوات مکمل (74)	
- لیکل لکه 20 + 60 = □ .	- د مساوات مکمل ، پۀ پکس کښې لیکل .	
- د 27 + 60 = □ لاندې لیکل .	- د مساوات مکمل ، لیکل .	
- د مساواتو د نورو جوړو سره چارې ساتل لکه □ = 40 + 50 □ = 30 + 30 □ = 40 + 56 □ = 30 + 39	- پۀ حل بحث کول ، معلومول چې د 6 واحدونو پۀ جمع کولو سره نتیجه کښې هم 6 واحدونه ربنات شول .	
- د 100 تېبل (جدول) ته ډکتلو غوښتنه کول (1)	- د 100 تېبل (جدول) پۀ مدد سره یو یا دیو نه درې یا تو سو اونو دحلونو تشریح کول (2)	د 100 تېبل
- د مشق پاڼې ر 2 - 08 - 1 د مطالعه کولو غوښتنه کول او د مساواتو مکملول .	- پۀ مشق پاڼه بحث کول ، د 100 تېبل (جدول) مطابق جوړه جوړه یکسونه کول ، پۀ اخر کښې د مساواتو کلاس ته لوستل .	مشق پاڼه ر 2 - 08 - 1
	3- ګڈو وړ عددونو نه د مکملو لسیزو تفریق	
- پۀ تخته لیکل (لکه) 80 - 10 = □ او 81 - 10 = □	- یوبل پسې د دواړو مساواتو مکملول 70 او 71 پۀ یکسونو کښې لیکل .	تخته
- د مساواتو د نورو جوړو سره چارې ساتل لکه: 70 - 50 = □ 80 - 40 = □ 77 - 50 = □ 83 - 40 = □ او دغه شان ورپسې نور .	- د مساواتو جوړې مکملول	
- د 100 تېبل (جدول) ته بیا ډکتلو غوښتنه کول	- د 100 تېبل (جدول) پۀ مدد سره د حلونو چک کول .	د 100 تېبل (جدول)
- د مشق پاڼې ر 2 - 08 - 2 د مساواتو د جوړو د مکملولو غوښتنه کول ، د خپل انډې وال سره یوځای	- جوړه جوړه مساوات مکملول ، د 100 تېبل (جدول) پۀ مدد سره ډ چک کول ، پۀ آخره کښې ډ کلاس ته لوستل .	مشق پاڼه ر 2 - 08 - 2

درسي پلان: ر 2-08	ددې درسي پلان په باب څه نوري تبصري

(1) په ټيبل کښې د 56 نه شروع کول او په يو کالم کښې په لسيزو کښې څلور قدمونه لاندې تلل ، وښيل : "جمع 10 ، جمع 20 ، جمع 30 ، جمع 40" ، 66 ، 76 ، 86 او 96 ته اشاره کول لکه چې په درسي پلان ر2-07 کښې پرې مشق شوے دے .

ر-۲	۰۸ — ۱
۴۰ + ۱۰ = ۵۰	۴۰ + ۳۰ = ☐
۴۲ + ۱۰ = ۵۲	۴۶ + ۳۰ = ☐
۴۰ + ۵۰ = ☐	۱۰ + ۸۰ = ☐
۴۴ + ۵۰ = ☐	۱۷ + ۸۰ = ☐
۶۰ + ۳۰ = ☐	۵۰ + ۲۰ = ☐
۶۳ + ۳۰ = ☐	۵۹ + ۲۰ = ☐

ر-۲	۰۸ — ۲
۴۰ - ۱۰ = ۳۰	۹۰ - ۶۰ = ☐
۴۲ - ۱۰ = ۳۲	۹۴ - ۶۰ = ☐
۳۰ - ۲۰ = ☐	۷۰ - ۴۰ = ☐
۳۸ - ۲۰ = ☐	۷۳ - ۴۰ = ☐
۶۰ - ۳۰ = ☐	۸۰ - ۵۰ = ☐
۶۵ - ۳۰ = ☐	۸۷ - ۵۰ = ☐

د پرومبی وړپسې درس خاکه	عنوان: د کلو و د عددونو سره د مکملولسیزوجمع او تفریق	ر2-08

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات
1- ذهنی تربیت: (د مکملولسیزو جمع او تفریق لکه (30 +70 = □ ؛ (.. □ = 60 - 90	
2- پۀ تخته لیکل لکه □ = 50 + 20 □ = 50 + 27	
(الف) د شاګردانو حلونه معلومول، (ب) د استاذ د پوښتو د همدغسې مساواتو د جوړو سره جاری ساتل لکه □ = 50 - 70 □ = 50 - 73	تخته
3- پۀ تخته لیکل لکه □ = 10 + 52 □ = 10 + 50	تخته
(الف) د شاګردانو مساوات مکملول، (ب) د استاذ د پوښتو د همدغسې مساواتو د جوړو سره جاری ساتل لکه □ = 60 - 85 □ = 60 - 80	
4- مشق پاڼې ر2-08-3 نه کتل، ذکر معلومول: (الف) اول دبنی اړخ مساوات ډکول اړخ مساوات سره یوځای کول؛ (ب) د جوړه جوړه مساوات مکملول، اول کارته کتل. (ج) هم پۀ هغه قطار کښې پۀ مکمل لسیزو کښې د مساواتو حلول، (د) پۀ آخره کښې املی کارته واپس تلل او حلول ټې، (هـ) کلاس ته ټې لوستل، مقابله کول، صحیح کول.	مشق پاڼه ر2-08-3

ر-۲ | ۰۸ - ۳

۹۰ = ۴۰ + ۵۰	□ = ۴۰ + ۵۸
□ = ۷۰ + ۲۰	□ = ۷۰ + ۲۷
□ = ۶۰ - ۸۰	□ = ۶۰ - ۸۶
□ = ۵۰ - ۹۰	□ = ۵۰ - ۹۹
□ = ۲۰ - ۳۰	□ = ۲۰ - ۳۴

دویم ورپسې درس	عنوان: بیا د مکملو لسیزو جمع او تفریق کول
خاکه ر2-08	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسي معاونات
1- ذهني تربیه: جوړه جوړه مساوات مکملول (پۀ توره تخته د لیکلو نه پرته)	
لکه $\square = 50 + 40$ $\square = 30 - 80$	
$\square = 50 + 43$ اودغه شان ورپسې ئې. $\square = 30 - 81$	
2- د استاد پۀ توره تخته لیکل (لکه $75 + 10 = \square$ ؛(الف) دټولونه اول د غیب مساوات د مکملولو غوښتنه کول (یعنی $70 + 10 = \square$) او پۀ توره تخته د لیکلو نه پرته ټپ حلول (ب) د شاګردانو پۀ توره تخته د مساواتو تو حلونه معلومول،(ج) پۀ بکس کښې 85 لیکل.	توره تخته
3- هم پۀ دغه طریقه د مساواتو لکه $54 - 20 = \square$ جاري ساتل؛(الف) د شاګردانو بیا د ټولونه اول د غیب مساوات معلومول (یعنې: $50-20=\square$) (ب) دا پۀ توره تخته د لیکلو نه پرته مکملول،(ج) املي مساوات حلول (54 20).	
4- د مشق پاڼې ر2-08-4 د پاسنۍ برخې پۀ کار بحث کول، (الف) ټول خالي ځایونه ډکول؛ (ب) پۀ آخره کښې د ټولو مساواتو کلاس ته لوستل.	مشق پاڼه ر2-08-4
5- د شاګردانو د مشق پاڼې د لاندینۍ برخې مساوات مکملول (بغیر د ډومجي غیب مساوات د لیکلو نه)؛ پۀ آخره کښې ئې کلاس ته لوستل؛ مقابله کول.	

ر-۲ | ۰۸-۴

$\square = ۳۵ + ۶۰$ $\square + ۳۰ = ۶۰$	$\square = ۲۶ + ۷۰$ $\square + \square = ۷۰$	$\square = ۵۱ + ۲۰$ $\square + \square = ۲۰$
$\square = ۶۷ - ۴۰$ $\square - \square = ۴۰$	$\square = ۹۱ - ۳۰$ $\square - \square = ۳۰$	$\square = ۸۲ - ۱۰$ $\square - \square = ۱۰$
$\square = ۳۳ + ۵۰$	$\square = ۲۴ + ۶۰$	$\square = ۴۲ + ۴۰$
$\square = ۷۹ - ۶۰$	$\square = ۷۸ - ۳۰$	$\square = ۶۶ - ۵۰$

ریاضی - دویم ټولګی

عنوان: د دوه هندسي عددونو جمع بغیر د انتقال (اړولو) نه

ر 2 - 09

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسي معاونات
	1- ذهني تربیه کول (تکرارول)	
- په ټوره تخته لیکل لکه 34 + 20 = □؛ طالب علمان ته غوښتنه کول چې هغه مساوات معلوم کړي چې ددې مسئلې په حل کولو کښې مدد وکړي.	- وئیل چې 30 + 20 = 50، دې پاره 34 + 20 = 54، بکس ډکول.	ټوره تخته
- هم دغه شان ورپسې نور سوالونه په ټوره تخته لیکل لکه: 30 + □ = 54، بیا 76 + □ = 40، بیا 48 + □ = 40 (1)	- اول د مساوات ساده کول بیا ئې حلول (د مکمل لسیزو جمع او تفریق کول)، بیا اصلي کارته واپس راتلل (د کډو د عدد سره حساب کول)	
	2- په عملي توګه د دوه کډو ډیرو عددونو جمع	
- دیوګران کار مخې ته دراتلو په باب وئیل؛ په ټوره تخته لیکل: 26 + 32 = □ (که چېرې شاګرد انو یو معقول حل پیدا نکړے شو، نو استاد به د مظاهرې دپاره ډکانړو تجویز ورکړي کوی).	- معلوم ول چې دوی دا مساوات - مخکښینۍ طریقې په شان به نۀ شی حل کولے؛ بحث کول چې څنګه به دوی دا مسئله حل کوی.	
- په مېز باندې ډکانړو. 2 ٪ بوجه (چې په هره یوه کښې، 10 ٪ ، 10 کانړی وی) او بوخواته 6 ٪ کانړې جدا ایښودل، او 3 ٪ بوجه او 2 ٪ ځان له کانړی بل اړخ ته.	- د بوجو او ځانګړو کانړو شمارل، وئیل چې په مېز باندې "26" + 32 کانړی دی.	بوجه (ګوتۀ) چې کانړی پکښې وی؛ ځانله کانړی
- پوښتنه کول چې د 26 ٪ او 32 ٪ کانړو د جمع کولو دپاره څۀ کول پکار دی؛ دمېز مخې ته یو کرښه ایښودل.	- دنولو بوجو (ګوتو) او ځانګړو کانړو دیوځای ایښو د تجویز وراندې کول.	
- غوښتنه کول چې هغه په کرښه په یوځای ډکانړو ایښودو ترتیب ته توجه وکړی (لکه په دې ترتیب 20 + 30 + 6 + 2) (2)	- ورته کتل؛ په ټوره تخته هرقدم لیکل، مساوات ته رسېدل: 20 + 30 + 6 + 2 = □	ټوره تخته
- نول کانړی په مېز واپس په خپل ځای ایښودل؛ د شاګردانو نه په کرښه د کانړو دا ایښودو د یوې ترتیب د معلومولو غوښتنه کول. (3)	- د شاګردانو د خپلې خوښې یو مساوات حلول، په اوچت اواز قدم په قدم حسابول؛ په بکس کښې نتیجه لیکل.	
- غوښتنه کول چې څوک به په ټوره تخته د لیکلے شوی یو مساوات نتیجه معلومه کړی.	- وئیل چې نول مختلف ترتیبونه او طریقې هم یو شان نتیجې لري.	
- د نتیجو د مقابله کولو غوښتنه کول.		
	3- د دوو کډو ډیرو عددونو په دوه قدمونو کښې جمع کول	
- غوښتنه کول چې صرف په دوه قدمونو کښې د مساوات د حلولو په لاره معلومه کړی.	- د دې متعلق سوچ کول، قیاس کول، بحث کول.	
- په ټوره تخته لیکل: 26 + 32 = □ ; □ + 26 = □ ; □ + □ = □	- د حل د معلومولو کوشش کول، معلوم ول د بکسونو ډکول: 26 + 30 = 56 ; 56 + 2 = 58 ; 26 + 32 = 58	ټوره تخته
د سکیم په مدد ډکارد حل کولو غوښتنه کول.		
- د یوبل مثال ورکول لکه 43 + 54 = □ ، د سکیم بیا جوړول.	- د سکیم ډکول (43 + 50 = ... 93 + 4 ...)	ټوره تخته
- په مشق پانړه ر 2 - 09 - 1 بحث.	- په مشق پانړه کښې نول مساوات مکمل، د نتیجو په بکس کښې په نتیجه نښه کول.	مشق پانړه ر 2 - 09 - 1

درسي پلان: ر2 - 09	ددې درسي پلان په باب څۀ نورې تبصرې

(1) ددې مشقونو مقصد دادے چې دهغه سوالونو تکراروشي چې په درسي پلان ر2 - 08 کښې معرفي شوي دي ـ هم هغه قاعدې او طريقې استعمالول پکاردي ـ که چيرې شاګردانو دا سوالونه ښه وکړل نو استاد دې زړبل قدم شروع کړي ـ
که چيرې شاګردانو په دې کار (سوالونو) کښې مشکلات ولرل نو استاد دې د درسي پلان ر2 - 08 نه دومناحت اود مشقونو تکرار وکړي ـ نزکوې پورې چې ماشومان په دې سوالونو ځۍ پوهرشوي نو هغوی ته به درانتلونکی قدم په زده کولو کښې د پرمشکلات وي ـ

(2) د 26 او 32 ـ ډکانړو د جمع عمل د پرزيات ممکنات لري ـ د مختلفو ترتيبونو د معلومولو د عمل په وخت ، استاد دې اول 20 ـ کانړې (دوه بوڅې) په کرسۍ کښې دي ، په نوره تخته دې شل (20) وليکي ـ بيا دې 30 ـ کانړې (3 بوڅې) راواخلي ، دا دې هم په کرسۍ کښې دي ـ ماشومانو نه دې د معلومولو غوښتنه کول چې په نوره تخته څۀ ليکل پکاردي ـ (.....+30) ، 6 ـ ځانګړې کانړې اينبودل (د شاګردانو په نوره تخته 6 + ـ ليکل او دوه ځانګړې کانړې اينبودل (د شاګردانو 2 + ـ په نوره تخته ليکل) ، دا استاد او شاګردانو لپاره عددونه او ټينګ لوستل ـ

(3) يو څو ممکن ترتيبونه دادي : 20 + 6 + 30 + 2 = ☐ ؛ 6 + 2 + 20 + 30 = ☐ ؛
10 + 10 + 6 + 10 + 10 + 2 = ☐ وغيره ـ

ر-۲ ۰۹ — ۱		
۵۱+۱۷	۶۳+۲۵	۴۲+۳۷
☐ = ۵۱ + ۱۰	☐ = ۶۳ + ۲۰	☐ = ☐ + ۴۲
☐ = ☐ + ☐	☐ = ☐ + ☐	☐ = ☐ + ☐
= ۱۷ + ۵۱	= ۲۵ + ۶۳	= ۳۷ + ۴۲
۲۸+۶۱	۷۴+۲۴	۵۵+۴۳
☐ = ☐ + ۲۰	☐ = ☐ + ۷۴	☐ = ☐ + ☐
☐ = ☐ + ☐	☐ = ☐ + ☐	☐ = ☐ + ☐
= ۶۱ + ۲۸	= +	= +
۹۸	۹۸	۸۸
۷۹	۶۸	۸۹

د پوهنې وړتیا درس	عنوان :	درسی معاونات
خاکه ر 2-09	په دوو قدمونو کښې د کلو وړ عددونو جمع	

د شاګردانو/استاد مشغلې

1ـ ذهنی تربیت : د استاد زبانی کار ورکول لکه : 23 + 20 ؛ 54 + 30 ؛ 87 - 10 ؛ 8 - 30 وغیره ؛ د استاد د حلونو تصدیق کولو نه مخکښې د څو شاګردانو جوابونه ورکول.

2ـ په تخته لیکل : 47 + 32

= +

= +

= +

د سکیم مطابق په دوو قدمونو کښې د دې د حساب کولو غوښتنه کول ؛ د شاګردانو د سکیم پرکول.

3ـ بحث کول/ د مشق پاڼې ر 2 - 09 - 2 په کارځان پوهول : — مشق پاڼه ر2-09-2

(الف) په مشق پاڼه کښې د ټولو مساواتو مکملول ؛

(ب) د شاګردانو د نتیجو په یکسونو د تبصرې کولو په ذریعه د نتیجو چک کول.

ر-۲ | ۲-۰۹

٦٦	٣٣ + ٦٦	٥٢ + ٣٤	٢٢ + ٤٤
٨٩	٣٣ + ٦٠ =	٥٢ + =	٢٢ + =
٦٨	+ ٩٣ =	+ =	+ =
٧٩	٣٣ + ٦٦ =	+ =	+ =
٨٦	١٧ + ٦٢	٣٨ + ٥١	٢٥ + ٤٣
٩٩	١٧ + =	+ =	+ =
	+ =	+ =	+ =

دویم ورپسې درس	عنوان:	درسی معاونات
خاکه ر 2-09	د جمع او تفریق تکرار	د شاګردانو/استاد مشغلې

درسی معاونات	د شاګردانو/استاد مشغلې
تخته	1ـ د استاد په تخته لیکل : □ = 20 + 30 □ = 20 + 34 د شاګردانو حلونه معلومول ، د بکسونو ډکول .
	2ـ د استاد هم دغه قسم نور سوالونه ورکول خو صرف پۀ تخته ئې لیکل لکه : 42 + 30 = □ ؛ 51 + 20 = □ ؛ د شاګردانو حلونه معلومول ، د بکسونو ډکول .
	3ـ د استاد پۀ تخته لیکل 50 - 40 = □ ؛ □ = 40 - 58 د شاګردانو حلونه معلومول ، د بکسونو ډکول .
	4ـ د استاد هم دغه قسم نور سوالونه ورکول خو صرف لیکل ئې لکه : 47 - 30 = □ ؛ 68 - 40 = □ وغیره . د طالب علمانو حلونه معلومول ، بکسونه ډکول .
مشق پاڼه ر2-09-3	5ـ د مشق پاڼې ر 2-09 - 3 پۀ کارځان پوهول ؛ د ټولو حلونو معلومول ؛ پۀ د ټولو مساواتو لوستل ، چک کول .
تخته	6ـ د استاد پۀ تخته لیکل 62 + 33 ؛ پۀ دوو قدمونو کښې دحسابولو غوښتنه کول او پۀ تخته هم دغه شان لیکل (استاد دې هله سکیم ورکړي که چېرې شاګردانو د لیکلو صحیح طریقه معلومه نۀ کړې شوه او پۀ خپله ئې حساب ونۀ کړے شو- وګورئ مشق پاڼه ر 2-09-4)
مشق پاڼه ر2-09-4	7ـ د شاګردانو پۀ مشق پاڼه ر 2-09 - 4 کښې ټول مساوات حل کول ؛ د نتیجو پۀ بکسونو کښې پۀ صحیح عددونو ټینه کول .

٦٥ ٩٩ ٣٠	□ = ٥٠ + ٤٠ □ = ٥٠ + ٤٦	□ = ٦٠ - ٩٠ □ = ٦٠ - ٩٢	ر-٢-٠٩-٢
٢٢ ٢٠ ٢٧ ٤١	□ = ٦٠ + ٣٠ □ = ٦٠ + ٣٨	□ = ٥٠ - ٧٠ □ = ٥٠ - ٧٧	
٨٣ ٧٣	□ = ٤٠ + ٢٥	□ = ١٠ - ٨٣	
١٢ ١٨ ٩	□ = ٨٠ + ١٩	□ = ٥٠ - ٦٣	
٩٨ ٩٠	□ = ٢١ + ٢٠	□ = ٣٠ - ٤٨	
٩٦ ٩٠	□ = ٢٣ + ٦٠	□ = ٥٠ - ٥٩	

٤٥+٣٤	١٢+٨٧	٥١+١٣	ر-٢-٠٩-٢
٧٥+١٢	٦٦+٣١	٧٠+٤١	
٩٩	٨٧	٦٨	٧٩	٩٧	٦٤

(ج) په دې کتاب (د طالب علمانو د کارکتاب) کښې معلم ټولې مشق پاتې
پیدا کولے شی خو په سائن کښې لږې وړې کړے شوی دی .
د دې دپاره چې معلم د ټولو تفصیلاتو نه ښه خبر شی نو ښه به داوی
چې د دې نه مخکښې اصلی یعنې لوبه مشق پاتې وګوری .
(د) معلم ته اجازه ده او ازاد دے چې د صورت حال د غوښتنې سره سم نورنور
مشقونه پیدا کړی .
(ه) لوبې او نورې مشغلې به د منځه نه وړل کیږی بلکې چې کله وخت
معلم ضرورت وویني نو تکراروی به ئې .

4- " د ښوونکی لارښود " د افغانی او پاکستانی استاذانو دپاره یواځې د یوه کتاب په شکل کښې تیار شوے او خطاطی شوے دے . په دې ډول او په دې امید چې دواړه ګروپه استاذان به ئې په لوستلو سره پوهیږی .
" د طالب علمانو د کارکتاب " په دوه جدا جدا کتابونو کښې تیار شوے دے چې د یوه نه به پاکستانی سکولونه او دبل نه به افغانی سکولونه کار اخلی .

تیارووونکی :
د پاک - جرمن لومړنی تعلیمات کارکووونکی

ریاضی ـ دویم ټولګی | عنوان: بغیر د انتقال دګډو د عددونو تفریق

ل 2 – 10

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسي معاونات
	1- دګډو د عددونو او مکمل لسیز و جمع او تفریق	
- په تخته لیکل لکه: 30+43 =	- د مساوات مکمول: اول پۀ مکمل لسیز وکښې زیاتی حسابول لکه: 30+40=70 ، بیا د روڼې مساوات نتیجه معلومول (73) او پۀ تخته لیکل.	تخته
- هم دغه شان خو سوالونه ورکول، په تخته د لیکلو نه بغیر، لکه: 30+55 او 70+24 او 36+40 وغیره او (1)	- که ممکن وی په یا دو حساب کول (بغیر د لیکلو نه)	
- په تخته لیکل لکه 65-40=☐	- د مساوات مکمول: اول پۀ مکمل لسیز وکښې حساب کول (لکه: 60-40=20)، بیا د روڼې مساوات نتیجه معلومول او پۀ تخته لیکل	
- د غه شان نور سوالونه ورکول په تخته د لیکلو نه بغیر؛ لکه 55-30؛ 72-20، 81-40 وغیره	- که ممکن وی پۀ یا دو حساب کول (بغیر د لیکلو نه) (1)	
	2- پۀ عملی توګه دګډو د عددونو تفریق کول	
- په تخته لیکل لکه 45-23=☐ غوښتنه کول چې څوک د دې جواب وئیلے شی	- بحث کول، د نتیجې د معلومولو کوشش کول، د خپلو جوابونو په تخته لیکل.	تخته، بوجې چې کانړې پکښې دی ځانګړې کانړې
- بوجې چې هره یوه ټبې "10" کانړې وی او 5 ځانله کانړې د استاد د میز څخه تۀ پۀ کرسۍ اینبودل.	- د کانړو و شمېرل، وئیل چې په کرسۍ باندې "45" کانړې دی.	
- پۀ تخته "45" لیکل؛ غوښتنه کول چې د کانړو پۀ مدد به څنګه نتیجه معلوو.	- تجویز و راندې کول چې د کرسۍ نه "23" کانړې لرې کړی.	
- د توجه کول و غوښتنه کول؛ یو شاګرد را بلل چې تجویز شوی عمل پرله پسې او پۀ مزه مزه وکړي	دیو ماشوم د "45" کانړو نه 23 کانړې لرې کول مثلاً اول دیو هلک "10" کانړې لرې کول؛ بیا نور "10" کانړې او بیا "3" کانړې.	
- غوښتنه کول چې څه وشول د هغې بیانول او پۀ تخته ئې لیکل.	- هغه څه چې وشول وئیل ئې: پۀ تخته ئې لیکل لکه: 45-10-10-3=☐	
- ټول "45" کانړې واپس پۀ کرسۍ اینبودل؛ طالب علمانو نه غوښتنه کول چې د 23 کانړو د تفریق کولو د پاره یوه بله طریقه معلومه کړی.	- د یو څو نورو شاګردانو نه پۀ یو بل پسې مخې تۀ راتلل او مزه مزه عمل کول؛ د نورو متعلقه مساوات په تخته لیکل لکه: 45-3-10-10=☐ او د اسې نور 45-20-3=☐	
- د ټولو حلونو د معلومولو غوښتنه کول	- حساب کول، د ټولو مساواتو مکمول، معلومول چې ټول نتیجې یو شان دی.	
	3- دګډو د عددونو پۀ دوو قدمونو کښې تفریق کول	
- په تخته لیکل: 45-23 ☐=☐-45 ☐=☐-☐ ☐=☐-☐ د حلونو د معلومولو غوښتنه کول	- د شاګردانو سکیم (پلان را یادول؛ بحث کول، د حلونو معلومول؛ د بکسونو په کول: 45-20=25 25-3=22 45-25=22	تخته
- مشق پاڼې ر 2-10-1 ته د کتلو غوښتنه کول؛ پۀ روښې سوال بحث کول	- روښې سوال ته، وئیل چې پۀ خالی بکس کښې څه لیکل غواړی؛ د بکسونو په کول، پۀ بکسونو کښې پۀ نتیجه د صحیح نښه کول؛ په آخره کښې کلاس ته ټول مساوات لوستل.	مشق پاڼه ر 2-10-1

درسي پلان: ر-۲ ۱۰	ددې درسي پلان په باب څه نورې تبصرې

1- ددې مقصد دادې چې ماشومان ددې جوګه شي چې بغیر د لیکلو نه سوالونه حل کړي. دا به څه وخت ونیسي او ماشومان به ددې جوګه نه وي چې په یو وخت دا ډول کار وکړي، استاد به صبر کوي او په انفرادي ډول به دومره وخت ورکوي چې څومره ضروري وي.

ر-۲ ۱۰ — ۱		
① ۲۳-۳۴ □ = ۲۰ - ۳۴ □ = ۳ - □ □ = ۲۳ - ۳۴	② ۳۴-۴۸ □ = ۳۰ - ۴۸ □ = □ - □ □ = ۳۴ - ۴۸	③ ۲۴-۳۷ □ = □ - ۳۷ □ = □ - □ □ = ۲۴ - ۳۷
④ ۳۵-۵۶ □ = □ - ۵۶ □ = □ - □ □ = - ۵۶	⑤ ۲۲-۷۵ □ = □ - ۷۵ □ = □ - □ □ = -	⑥ ۲۷-۴۹ □ = □ - □ □ = □ - □ □ = -
۱۴ ۲۱	۱۱ ۲۲	۱۳ ۵۳

د پرومبی وړپسې درس خاکه ل 2-10	عنوان : بغیر د انتقال نه دکمې وړ عددونو د تفریق مشق کول

د شاګردانو / استاد مشغلې	درسي معاونات
1- ذهني تربیت : د مکملولسیزو جمع او تفریق کول لکه (35 + 40 ؛ 72 - 30 وغیره ؛ داستاد وخت ورکول، که ضرورت وی نو پرومبې د مکملولسیزو جمع او تفریق را یاد ول، مثلاً 30 + 40 ؛ 72 - 30 وغیره ؛	
2- د استاد پهٔ توره تخته لیکل لکه 43 - 65	توره تخته
(الف) پهٔ دوُو قدمونو کښې د حسابولو غوښتنه کول :	
(ب) د شاګردانو پهٔ توره تخته لیکل : 25 = 40 - 65	
(د ضرورت پهٔ وخت د استاد مدد کول) 22 = 3 - 25	د 100 « تېبل (جدول)
22 = 43 - 65	
(ج) د اعمل د 100 « پهٔ تېبل (جدول) کښې ښودل	مشق پاڼه ۵
3- د شاګردانو مشق پاڼې ل 2-10-2 ته کتل؛ (الف) دخپل اټکلې وال سره د ټولو ګډونو پرکول،	ل 2-10-2
(ب) د « 100 » د تېبل (جدول) سره ځې چک کول	
(ج) کلاس ته د ټولو مساوا تو لوستل، مقابله کول	د 100 « تېبل (جدول)

ل-۲	۲ — ۱۰
① ۹۸ - ۴۶ = ۹۸ - ۴۰ = ۶ - = -	۵۱
② ۸۳ - ۵۲ = - = -	۳۱
③ ۴۹ - ۳۸ = - = -	۱۱
④ ۷۷ - ۶۲ = - = -	۱۵
⑤ ۶۵ - ۱۴ = - = -	۵۲
⑥ ۵۴ - ۱۲ = - = -	۴۲

دویم ورپسې درس	عنوان: د کمو په عدد دونو جمع او تفریق
خاکه ر-2 10	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسي معاونات
1- ذهني تر بیت : د مکمل لسیزو جمع او تفریق کول (لکه: 24 + 60 او 83 - 50 وغیره)؛ بغیر په ټوره تخته دلیکلونه د حسابولو د پاره د استاد وخت ورکول	
2- په ټوره تخته خواپه خوا لیکل 65 - 31 او 53 + 24 ؛ په دوو قدمونو کښې د نتیجو د معلومولو غوښتنه کول او په توره تخته یې لیکل. (الف) په دوو قدمونو کښې د شاګردانو د نتیجو په باب خبرې کول (ب) دا په ټوره تخته لیکل:	ټوره تخته
65 - 30 = 35	
35 - 1 = 34	
65 - 31 = 34	
53 + 20 = 73	
73 + 4 = 77	
53 + 24 = 77	
3- مشق پانړې ر 2 - 10 - 3 ته کتل، ځان پوهول چې دا مختلف قسمه مساوات د ی (جمع او تفریق) (الف) ټول مساوات مکمل، (ب) دا ډول سره چک کول ؛ (ج)، د نتیجو په ګډونو کښې د نتیجو معلومول؛ (د) په اخره کښې کلاس ته د ټولو مساواتو لوستل	مشق پانړه ر-2-10-3



ریاضی – دویم ټولګی	عنوان: د عددونو تجزیه کول ، مکمل لس کیزونه لیکل
ل 2 – 11	

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسي معاونات
	1 – د جدا کولو پوه لوبه کول	
– 9 ، شاګردانو نه د محکښې را تلو وینا کول.	– د 9 شاګردانو د کلاس څخې نه یو بل سره نزدې ودریدل.	
– د 9 شاګردانو نه 2 ، شاګردان لرې کول او دوه ګروپونه جوړول، داسې چې په هر ګروپ کې د شاګردانو ترمنځ فاصله څې د نورو نه لرې ودرول، د استاد په تخته دا ډیاګرام جوړول.	– مشاهده: کول چې د لته د شاګردانو دوه ګروپونه دي ، چې په یو ګروپ کې 7 شاګردان او په بل ګروپ کې دوه شاګردان دي. وټیل چې 9 شاګردان په دوو ګروپونو کې ولاړ دي چې په یو ګروپ کې 7 او په بل ګروپ کې 2 شاګردان دي.	تخته
– پوښتنه کول چې دا نصه شاګردان په نورو کومو طریقو ګروپ ګروپ کېدے شي. د تجویز شوي ګروپونو جوړول او برعکس مساوات لیکل لکه 9 = □ + □	– د شاګردانو تجویزونه وړاندې کول چې څنګه به دا 9 شاګردان ګروپ کېږي. د صحیح پوزیشن د نیولو دپاره لاربښودنه کول.	
– مشق پاڼې ر 2 – 11 – 1 ته ډکتلو غوښتنه کول.	– په کار پوهېدل، په مختلفو طریقو عددونو جدا / تجزیه کول ، نیول ممکنه مساوات لیکل ، د ضرورت په وخت کې د نقطو استعمالول.	مشق پاڼه ر-2-11-1
	2 – د عدد 10 جدا / تجزیه کول ، په مساواتو کې یې استعمالول	
– په تخته خلور ځلې "10" د یو بل لاندې لیکل، بیا خلور ځلې "10 =" لاندې لیکل. (1) طالب علمانو نه غوښتنه کول چې د نتیجې 10 (□ + □ = 10) دپاره د جمع خلور امکاني طریقې وښایي.	– د شاګردانو د جمع خلور طریقې معلومول چې نتیجه یې 10 (10 = □ + □) وي د عدد 10 (10 = □ + □) د جدا کولو / تجزیه کولو خلور طریقې معلومول: "10 = □ + □"	تخته
– مشق پاڼې ر 2 – 11 – 2 ته ډکتلو غوښتنه کول.	– معلومول چې د نیولو مساواتو نتیجه 10 ده ، د نیولو مساواتو مکملول.	مشق پاڼه ر-2-11-2
	3 – ذهني تربیت : د عدد 20 جدا کول / تجزیه کول	
– په تخته 20 نقطې اچول (په یو قطار کې) ، د کومو دوو نقطو په مینځ کې یوه وړه کرښه راښکل لکه : (د خوارلسمې او پنځلسمې نقطې په مینځ کې)	– د کرښې د بنې اوکې اړخ نقطې شمېرل، وټیل لکه : 6 + 14 = 20	تخته
(2) – ورکوونې کرښې ورانول ، د دوو نورو نقطو په مینځ کې کرښې ویستل، د شاګردانو نه د دوو عددونو د وټیلو غوښتنه کول، دا مشغله د نورو مثالونو سره تکرارول.	– نقطې شمېرل ، د عددې جملو وټیل ، بیا وټیل □ + □ = 20	

درسي پلان: ر 2 - 11	ددې درسي پلان په باب څۀ نورې تبصرې

(1) دسلیزو سلسله به په توره تخته داسې بنکاري:

10 =
10 =
10 =
10 =
= 10
= 10
= 10
= 10

(2) ..... / ....

20 = 6 + 14

ر-۲ | ۱۱ - ۱

۹ = □ + □	۸ = □ + □	۷ = □ + □	۶ = □ + □
۹ = □ + □	۸ = □ + □	۷ = □ + □	۶ = □ + □
۹ = □ + □	۸ = □ + □	۷ = □ + □	۶ = □ + □
۹ = □ + □	۸ = □ + □	۷ = □ + □	۶ = □ + □
۹ = □ + □	۸ = □ + □	۷ = □ + □	۶ = □ + □
۹ = □ + □	۸ = □ + □	۷ = □ + □	۶ = □ + □
۹ = □ + □	۸ = □ + □	۷ = □ + □	
۹ = □ + □	۸ = □ + □		
۹ = □ + □	۸ = □ + □		
.....	.....	.....	.....

ر-۲ | ۱۱ - ۲

۳ + □ = ۱۰	□ + ۴ = ۱۰	۶ + □ = ۱۰
۲ + □ = ۱۰	□ + ۵ = ۱۰	□ + ۱ = ۱۰
۶ + □ = ۱۰	□ + ۷ = ۱۰	۲ + □ = ۱۰
۱۰ = □ + ۴	۱۰ = □ + ۸	۱۰ = □ + □
۱۰ = □ + ۹	۱۰ = □ + ۳	۱۰ = □ + □
۱۰ = □ + ۸	۱۰ = □ + ۵	۱۰ = □ + □

د ډومبۍ وړومبۍ درس	عنوان: جمع کول د عدد «10» په اړولو (انتقالولو) سره
خاکه ر 2-11	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسي معاونات
1- ذهني تربیت: د عدد «10» تجزیه کول/ جدا کول لکه (10 = 8 + 2)؛ د عدد «20» تجزیه کول/ جدا کول لکه (20 = 11 + 9) بغیر د تورې تختې د استعمال نه په مشقونه کول.	
2- داسې مساوات حلول چې نتیجه یې 10 وي. د صفر نه شروع کول لکه: 10 = 10 + 0 ، 10 = 9 + 1 او داسې نور. بیا همدغسې مساوات حلول چې نتیجه یې 20 وي، د 10 نه شروع کول.	
3- په تورې تخته 7 + 4 = ☐ لیکل: (الف) نقطو سره په عملي مظاهره بحث کول، (ب) په یوقطارکښې «7» او «4» نقطې داسې جوړول چې د دواړو ګروپونو په مینځ کښې لږه فاصله وي (ج). د «10» نقطو نه دا ډډه چاپېره ول مثلاً: ○○○○○○○ ○○○○ ؛ (د) وضاحت کول چې د مکمل لسیز د حاصلولو دپاره د دې کروپ «3» نقطو ته ضرورت لري. بیا یوه نقطه پاتې کیږي، (هـ) په تورې تخته لیکل: 7+3=10 ، 10+1=11	تورې تخته
4- مشق پاڼې ر 2 - 11 - 3 نه د کتلوګوښتنه کول (الف) په پرتمیې سوال بحث کول، (ب) دیکسونو په ډکولو سره د تورو مساواتو مکمل.	مشق پاڼه ر2 -11- 3



دویم وړپسې درس	عنوان:	لسیزو نه د ټپرېدلو پۀ حالت کښې د جمع مشق کول
خاکه	ر 2 - 11	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات
1- ذهنی تربیت : د عدد «20» تجزیه کول/ جدا کول ، د عدد «1» نه شروع کول بیا د عدد «2» او دغه شان وړپسې تر عدد «9» پورې لکه : (20 = 1 + 19 ..... 19 + 1 = 20) .	
2- پۀ تخته 4 + 9 = □ لیکل؛ (الف) جمع د وضاحت د پاره پۀ تخته 4 + 9 نقطې ویستل ○○○○ ○○○○○○○○○ ،(ب) د جمع عمل له پۀ قدمونو کښې ترتیب ورکول لکه : (4 + 6 = 10 ، د لسو نقطو نه دایره چاپېرول ؛ 10 + 3 = 13) (ج) د پورتنی مشقونه کول .	تخته
3- مشق پانړې ر 2 - 11 - 4 ته کتل، (الف) پۀ پام سره برخه کښې د دوو مساواتو پۀ دوو قدمونو کښې حلول (پۀ یاد دې وي) لکه 10 = 5 + 5 ، 10 = 2 + 8 ، 11 = 1 + 10 ، 12 = 2 + 10 (ب) د پروشاګردانو قدم پۀ قدم د مساواتو تکرارول . (ج) د مشق پانړې ر 2 - 11 - 4 نورې مساوات حلول ، پۀ یکسویۀ کښې د صحیح نتیجې پۀ ډکولو سره د مکمل حلول؛ (د) د اتنې وال سره چک کول .	مشق پانړه ر 2 - 11 - 4

ر-۲	۱۱ - ۴		
		□ = ۸ + ۴	□ = ۵ + ٦
□ = ٦ + ۹		□ = ۸ + ۳	□ = ۴ + ۷
□ = ۹ + ۹		□ = ۸ + ۹	□ = ۴ + ۹
□ = ۸ + ۷		□ = ۵ + ۸	□ = ٦ + ۷
□ = ۷ + ۹		□ = ۵ + ۷	□ = ٦ + ۵
□ = ۷ + ۵		□ = ۵ + ۹	□ = ٦ + ۹

ریاضی - دویم ټولګی	عنوان: د دوه هندسي عددونو اووا حدونو جمع ، دمکمل لسیزونو اړول (انتقالول)
ر 2 - 12	

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسي معاونات
	1- د مکمل لسیزو پورې جمع	
- د دوو ګروپو شاګردانو نه چې په هر ګروپ کښې درې درې کسان وي د حساب کولو دیوې لوبې غوښتنه کول . دلوبې تشریح کول (1)	- د شاګردانو د دوو ګروپونو مخې ته راتلل ؛ دیو ګروپ یو عدد وټیل لکه «34» ؛ د نورو ګروپونو بحث کول بیا وټیل 34 + 6 = 40 او دغه شان ورپسې لوړ .	
	2 - په دوو قدمونو کښې د مکمل لسیزو انتقالول .	
- په ټوره تخته لیکل لکه 6 + 35 (2)	- په یاد وحساب کول ، د حل معلومول ؛ په ټوره تخته د ټولو مساواتو لیکل .	ټوره تخته
- د صحیح جواب د معلومولو او تشریح کولو غوښتنه کول د دوو قدمونو د سکیم په مدد سره، دا په ټوره تخته جوړول (3) 6 + 35 □ + 35 = □ □ + □ = □ □ = +	- تجویز وړاندې کول چې په سکیم کښې به څنګه لیکلے کیږي ؛ معلومول چې په مکمل لسیزو کښې جمع اولنے قدم دے ، د سکیم مکمل ، لیکل: 35 + 5 = 40 40 + 1 = 41 35 + 6 = 41	
- همدغسې مشابه سوالونه ورکول لکه (68 + 5 ، 86 + 8 ، 44 + 9 .....)، هرځل په ټوره تخته سکیمونه جوړول.	- په حلونو بحث کول ، بیا په سکیم کښې د بکسونو ډکول .	ټوره تخته
	3- په دوو قدمونو کښې د مکمل لسیزونو نه د ټپرېدلو مشق کول	
- مشق پاڼې ر 2 - 12 - 1 ته د کتلو غوښتنه کول .	- د نمونې په باب خبرې کول : یوسړے په دوو دوو قدمونو کښې پاس ځي ، دلسونه ټپرېږي (مثلاً د رومبې چت نه)	مشق پاڼه ر2-12-1
- په شریکه رومبنی مثال باندې بحث کولو غوښتنه کول .	- په رومبې مثال بحث کول ؛ وضاحت کول چې په بکسونو کښې عددونه ولې صحیح دی .	
- په انفرادي ډول د ورپسې دوو سوالو د حل کولو غوښتنه کول .	- د دوو سوالونو سکیم په صحیح عددونو ډکول په آخره کښې ئې په اوچت اواز لوستل .	
